# اوبهٔ او انرژي



د شاه و عروس بند

د اوبو او انرژي وزارت خپرووونکی ارگان

۲۵ **گڼه** دولسم کال پنځه وېشتمه گڼه، د ۱۴۰۲ هـ ش کال څلورمه ربع (جدي، دلو، حوت) چې د ۱۴۴۵ هـ ق کال سره سمون لري

د لمریز پمپ پر مټ د ځمکې لاندې اوبو زیات کارول لوی ګواښ دی. هر څاڅکی چې نن خوندي شي د سبا ژوند تضمینوي.



استفاده بیش از حد از آب زیرزمینی توسط پمپ خورشیدی یک تهدید بزرگ است. هر قطره ای که امروز ذخیره شود، زندگی فردا را تضمین می کند.

لهٔ نوې کېدونکې انرژي څخه ګټه واخلئ د نوې کېدونکې انرژي (لمریز) کارول د انرژي مصرف کموي او سپموي، عرضه کنټرول کوي، د انرژي تقاضا کنټرول کوي او د مضره ګازاتو اخراج کموي.



از انرژی های قابل تجدید استفاده کنید استفاده از انرژی قابل تجدید (خورشیدی) باعث کاهش و صرفه جویی در مصرف انرژی، و کاهش انتشار گازات مضر میگردد.

# د دې ګڼې په پاڼو کې


سرمقاله.......................................................................۲

کار بخش پاور هاوس و نصب تجهیزات تولید برق پروژه بند شاه و عروس آغاز شد..................۶

په میدان وردګو ولایت کې د پنځه چکډمونو د جوړولو چارې د ۱۷ میلیون افغانیو په ارزښت بشپړې او ګټې اخیستنې تهځ وسپارل شوې...۷

از میان ۱۴۰ پروژه چکدم در یازده ولایت افغانستان قراردادهای اعمال ۷۳ چکدم امضاء شده است....۸

د اوبو او انرژي وزارت د پروژو د پلي کولو په موخه د ملي پراختیا شرکت له مسؤلینو سره د هغې ناسته ترسره شوه....۱۱

د مقالو برخه........................................................................۱۷

٥٤..Officials from three commercial companies expressed their willingness to

٥٦..In Logar Province, Seven Check Dam Project, Worth Nearly 17 Million Afghanis



د امتیاز خاوند: د اوبو او انرژي وزارت

مسؤول مدیر: خواجه فقیر محمد " صدیقي "

کتنپلاوی:

قاري محمد عبدالعزیز "عزیز"

الحاج غلام جیلاني "حق پرست"

انجنیر عزیزالرحمن "عزیز"

برکت الله " آریوبي "

انجنیر همت الله "امین زی"

سموونکی: بازمحمد " درمل "

مترجم : فهیم " صمیم "

راپور تران: نعمت الله " اخلاقي" او اسدالله "ایوبي"

عکس اخستونکی: محمد حکیم "فیض"

ډیزاینر: سید مصور " سادات "

وېشونکی: سیدعادل "سادات"



درک: د دارالامان عمومي سرک ، سناتوریم ، کابل - افغانستان

mew.gov.af

ایمیل پته: chiefofstaff@mew.gov.af
info@mew.gov.af

د اړیکو شمېرې: ۰۷۷۷۹۱۷۸۹۸ / ۰۷۷۳۲۱۸۴۱۸


درنو لوستوونکو!

د « اوبهٔ او انرژي » مجلې او میاشتنۍ جریدې د سافټ موندلو لپاره کولای شئ، ددې اداري ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.

یادونه: کومې مقالې چې په" اوبهٔ او انرژي" مجله کې خپرېږي، پهٔ لیکوالانو پورې اړه لري؛ هر لیکوال ته بویه چې د خپلې لیکنې دفاع پخپله وکړي.

د مجلې او لیکوال د نوم پهٔ یادولوسره هر چاته د مأخذ پهٔ توګه د استفادې اجازه ده.

# ســــــرمقاله

د افغانستان په هکله د دوحې غونډه چې د روان زېږديز کال د فبروري د میاشتې په ۱۹-۱۸ د ملګرو ملتونو د سرمنشي او يو شمېر هېوادونو د استازو په ګډون دايره شوه، چې له کومې ګټورې پايلې پرته پای ته ورسېده.

دا غونډه ځکه بې له کومې مثبتې پايلې پای ته ورسېده چې د غونډې له تدوير څخه ډېر وړاندې د افغانستان د اسلامي امارت مسؤلينو له ملګرو ملتونو څخه د غونډې د اجنډا په هکله معلومات غوښتل او هم يې دا شرط ايښی وو چې د افغانستان د اسلامي امارت پلاوی بايد د افغانستان د يواځني استازي پلاوي په حيث وبلل شي، بل چاته بايد د افغانستان د استازي په حيث بلنه ورنکړل شي. په دې مانا چې د افغانستان د خلکو او حکومت استازيتوب د يوه حاکم نظام په حيث يوازې د افغانستان د اسلامي امارت مسؤلين کولای شي او دا د دوی حق هم دی. خو دا چې ملګري ملتونه آن له ۱۹۷۹ م کال څخه را پدېخوا تر نن پورې د افغانستان په هکله پرله پسې خپلې ناکامه تجربې تکراروي چې د افغانستان په هکله دوی زياتره وخت د مسؤلو او ذيدخلو جهتونو پر ځای له بې صلاحيته او غير ذيدخله خواو سره تماسونه او ناستې کوي، نو نتيجه يې هم طبعاً بې ګټې وي چې د جنيوا مذاکرات او بن کنفرانسونه زمونږ د ادعا ښه ثبوت دی.

لمړی خو که چېرې د ملګرو ملتونو تاريخ ته نظر واچوو نو د دغې ادارې زياتره کړه، وړه د نړۍ د سترو نظامي او اقتصادي ځواکونو د ګټو پر محور باندې را څرخېږي، يعنې دغه اداره تل د سترو ځواکونو د فرمايشونو پوره کولو په چوپړ کې ده، څه چې د دغو ځواکونو خوښه او غوښتنه وي، د ملګرو ملتونو اداره يې په پټو سترګو په منلو او عملي کولو مکلفه ده، دلته تل د زبرځواکونو دهرې سياسي، نظامي او اقتصادي ګټې خيال ساتل شوی دی، د غريب او کمزوري هېواد غږ هېڅکله هم نه ده اورېدل شوی. ملګرو ملتونو په نړۍ کې تل د "يو بام او دوه هواوې" مصداق رول لوبولی دی، چې د ختيځ تيمور تاسيس او د سودان هېواد په دوو برخو وېش له يوې خوا او د افغانستان، عراق، ليبيا، يمن، سوريې او فلسطين په هکله د دغې ادارې غير عادلانه تګلاره له بلې خوا د هيچا له سترګو څخه پټه نه ده. که چېرې ملګري ملتونه په رښتيا هم غواړي چې نړۍ دې د امن کور شي، د نړۍ هر وګړی دې په سوله، سوکالي او آرامي کې ژوند وکړي او د نړۍ شته جنجالونه او ناخوالې دې صفر ته راښکته شي، نو بايد چې موجوده غير عادلانه تګلاره له يوې مخې بدله او په يوه نوي معقول، عادلانه او واقعي بشردوستانه چوکاټ کې خپلې ټولې پاليسۍ عيارې کړي.

را به شو دې ته چې په افغانستان کې خو د اسلامي امارت د دوهم ځل واکمني له پيل څخه هره ورځ د سل ګونو انسانانو د وينې توېدلو لړۍ پای ته ورسېده.

- د ناټو او امريکا د بمباريو، چاپو، وژنو او کورونو او ښارونو ړنګولو ته د پای ټکی کېښودل شو.

- هېواد والو مو چې د مرګ تر سيوري لاندې ژوند کاوو، نن يې سر، مال او آبرو، هرڅه په امن شول، او په بې غمه زړه د خپلواکي په فضا او هر ډول وېرې او ترهې پرته خپل ژوند پرمخ بيايي.

- له ځلورنيمو لسيزو وروسته افغانستان يو داسې حکومت لري چې سل په سلو کې د افغانستان پر ټوله جغرافيه باندې حاکم او د واک او ځواک ټولې نامشروع جزيرې له منځه وړل شوې دي.

- په افغانستان کې د مخدره توکو د کښت، قاچاق، تجارت او اعتياد کچه صفر ته راښکته شوې او د زرګونو معتادينو درملنه شوې او لا هم روانه ده.

خو ملګري ملتونه له پورته مشت نمونه خروار حقايقو څخه سترګې پټوي او د لوی لالا(!) په فرمايش باندې لا هم د ټولشموله حکومت يک نواخته، تکراري او بې خونده سندره تکراروي. د افغانستان ملت او حکومت د دغې ادارې مسؤلانو او د سيمې او نړۍ ټولو حکومتونو او ولسونو ته وايې چې افغانستان نن د تېرې نيمې پېړۍ حکومتونو په پرتله ډېر زيات ټولشموله او عادلانه اسلامي نظام څخه برخمن دي او د هيچا ديکتې، مشورې او وکالت ته اړتيا نلري. د دوحې له غونډې څخه د افغانستان د اسلامي امارت پرېکون او نه ګډون دا ثابته کړه چې افغانستان اوس يو خپلواک حکومت لري چې کولای شي د چا له فشار او مشورې پرته د خپلو ديني او ملي ګټو د خونديتوب په هکله خپلواک تصميم ونيسي او د هيچا مخالفت ته هېڅ ډول اهميت ورنکړي.

دغه راز د افغانستان اسلامي امارت د دې حق او وړتيا لري چې د خپل هېواد او ملت د ديني او ملي ايجاباتو په رڼا کې په کومه غونډه کې ګډون او يا نه ګډون پرېکړه وکړي او د هيچا زور او فشار ته سر ټيټ نکړي، او که څوک د افغانستان په هکله د افغانستان د اسلامي امارت(چې د ټول ولس د ارادې يواځنی ممثل دی) له ګډون او نظر پرته غونډې او کنفرانسونه دايروي نو پايله به يې يواځې د اوبو پرمخ کرښې وي او بس.

د افغانستان اسلامي امارت چې د نړۍ د سترو نظامي ځواکونو زور ته تسليم نه شو، په مېړانه او غيرت يې د هغو په خلاف سنګر ونيو او د سل ګونو زره ځوانانو د پاکو وينو په بيه يې يرغلګرو ته ماتې ورکړه او خپلواکي يې ترلاسه کړه، نو د چا سياسي فشار ته هم هېڅکله د تسليم سر نه ټيټوي او تل به د ملي، سيمه ايزو او نړيوالو مسايلو په وړاندې هغه دريځ نيسي چې د دغه هېواد ديني، ملي او فکري ګټې يې ايجابوي.

ملګري ملتونه او د سيمې او نړۍ حکومتونه بايد هر څه له خپلو عينکو څخه ونه ګوري، بلکې عيني او ځمکني واقعيتونه په لوڅو سترګو وګوري او له افغانانو سره خپلې اړيکې د دغو واقعيتونو په رڼا کې عيارې کړي؛ ځکه نور هغه وخت تېر شوی چې په افغانستان کې به د پرديو په فرمايش حکومتونه جوړېدل او بيا به دغو تش په نوم حکومتونو د خپلو بادارانو هر ډول حکمونه او فرمايشونه په پټو سترګو منل. افغانستان اوس يو خپلواک هېواد دی، خپلواک حکومت لري او حکومت ترشا خپل ملت لري، نو هر چا ته بويه چې د متقابل احترام په چوکاټ کې د افغانستان استقلال، ملي حاکميت او خپلواک دولت او ملت ته درناوی ولري.

د ملګرو ملتونو په شمول هيڅوک بايد د افغانستان په هکله د پخوانيو ناکامو تجربو تکرار ته دوام ورنکړي او د خيال له نيلي څخه راکوز او عيني واقعيتونو ته په درنښت ارزښت او اهميت قائل شي.

# ديني موعظه

## حسد

ليکوال: مولوي عزيزالله "سهار"

يو له هغو باطني گناهونو او امراضو څخه چې انسان وربانديې اخته کېږي حسد دی، چې پېژندنه، نقصانات، اسباب او علاج يې په لاندې ډول دي.

**تعريف( لغوي او اصطلاحي معنی)**

حسد په لغت کې گرولو ته ويل کېږي

حاسد هم د حسد په کولو خپل زړه گروي او ځان ته تکليف رسوي.

او امام غزالي رح  د حسد اصطلاحي معنی داسې بيان کړې:

کراهة النعمة وحب زوالها عن المنعم عليه. (احياء العلوم۳ ج۱۸۹ ص)

**ژباړه او حاصل:**

کوم نعمت چې الله پاک ج يو چاته ورکړی وي هغه بد گڼل

او د نعمت له څښتن څخه د نعمت زوال او لرې کېدل خوښول.

يعني الله‌پاک‌ج يو چاته علم يا کوم کمال يا مال يا منصب يا ښايست او داسې نور انعامات ورکړي وي نو حاسد وايي دا نو څه نعمت دی!؟

خو په حقيقت کې پر دې خوشحالېږي،چې دا نعمت ورنه واخيستل شي.

**تنبيه:**

حسد هغه زهرجنه بيماری ده يواځې دا نه، چې حاسد په مرض اخته وي بلکه له مرض سره سره د حاسد زړه زبېښې او کمزوری کوي، تر دې چې له مرگ سره يې مخامخ کوي او بل چاته يې هيڅ ضرر نشي رسېدلی.

**۳- د حسد حکم:**

د اسلام په سپېڅلي دين کې حسد حرام بلل شوی.

لکه څرنگه چې په اسلام کې د نورو محرماتو څخه د ځان ساتل فرض گرځول شوي همدا شان له حسد څخه هم د ځان ساتل فرض دي.

**۵- د حسد بدي او تاوانونه:**

۱- الله‌پاک‌ج په قرآن  عظيم الشان کې مسلمان ته د حاسد د شرنه د پنا حکم کوي: ومن شر حاسد اذا حسد.

يعنې اې مسلمانه داسې واوېه چې د الله‌پاک‌ج په وسيله د حسد کوونکي له شر نه پناه غواړم.

**يادونه:**

الله‌پاک‌ج د فلق په سورت کې مسلمان ته امر کوي چې له شر د ټولو مخلوقاتو څخه پناه وغواړه په ټوله کې بيا درې ډېر ځيزونو له شر څخه:

۱- له شر د تورې شپې چې تيارهٔ شي، ځکه ضرر رسوونکي پکښې پيدا کېږي.

۲- له شر د هغو ښځو چې( د سحر په پار) په غوټو کې پوکي يعني له شر د جادو گرو څخه.

۳- له شر د حسد کوونکي څخه.

**۲- همدا شان پيغمبر عليه السلام هم د حسد نه منعه کړې:**

لاتحاسدوا ولاتباغضوا ولاتدابرو وکونواعبادالله اخوانا(صحيح بخاري).

ژباړه او حاصل:

تاسو يو له بل سره حسد مه کوئ، بغض مه کوئ او يو بل ته شاوې مه گرځوئ يعني خپلوی مه شکوئ او د الله‌پاک‌ج بندگان شئ د ورونو په شان.

يعنې لکه څرنگه چې الله ج د مسلمانو بندگانو تر منځ نسبت د ورورگلوي راوړي، چې مسلمانان سره ورونه دي له همدې امله مسلمانان هم بايد يو له بله سره د  ورونو حيثيت ولري او له حسد،کينې او دښمنی څخه لاس واخلي.

**۳-  حسد د مسلمان نېکی ختموي:**

ايّاکم والحسد فانّ الحسد يأکل الحسنات کما تأکل النار الحطب. (رواه ابو داؤد)

ژباړه او حاصل:

حضرت پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: ځان وساتئ له حسد څخه ، حسد نيکی داسې خوري او ختموي لکه اور چې وچ لرگي خوري او سوځوي.

يادونه: ددې زماني مسلمانانو نيکی هسې هم لږ وي؛ خو چې څه نا څه ثوابونه يې گټلي وي هغه نو په حسد ختم شي لهذا د حسد څخه د زړه صفا کول يو اهم او ضروري کار دی.

**۴- حسد مسلمان د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له شفاعت څخه محروموي.**

رسول پاک صلى الله عليه وسلم فرمايي: ليس منا ذو حسد ولانميمة ولا کهانة ولا انا منه.    (رواه الطبرانی)

**ژباړه او حاصل:**

زموږ له ډلې څخه نه دی  د حسدڅښتن، شيطانت کوونکی او له غيبو خبرې کوونکی او زه هم له هغه څخه نه يم،

**۵- حسد د جهنم سبب گرځي:**

ستة يدخلواالنار قبل الحساب بستة، قالوا من هم يا رسول الله؟ قال: الامراء بالجور والعرب بالعصبية والدهاقين بالتکبر والتجار بالخيانةو اهل الرستاق بالجهل والعلماء بالحسد. ( رواه الديلمی)

**ژباړه او حاصل:**

حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي، شپږ کسان دي چې تر حسابه به مخکې جهنم ته ځي د شپږو ګناهونو په وجه، صحابوو (رض) پوښتنه وکړه دا به څوک وي یا رسول الله؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

د وخت ظالم امیران به د ظلم په وجه، قومیت پالونکي عرب به د قومیت په وجه، د قوم کبرجن سرداران به د کبر په وجه،خاین تجاران به د خیانت په وجه، ناپوه بانده چیان او کوچیان به د جهل او نا پوهي په وجه او حاسد علماء او ملایان به د حسد په وجه جهنم ته ځي.

یعني هغه علم چې انسان له ګړنګونو را بچ کوي او جنت ته یې رسوي خو چې حسد ورسره ملګری شي بیا هم دغه علم انسان جهنم ته ورغورزوي. العیاذ بالله.

**٥- حسد د قتل، غیبت،دروغ او تهمت سبب ګرځي.**

دا طبعي خبره ده چې په یو چا دې انعام پېرزو نشي او تر نظر دې بد درغلو نو کوښښ به کوې چې غیبت یې وکړې، دروغ ورپسې وتړې او حتی د مرګ هڅه یې هم وکړې، لکه قابیل چې هابیل د حسد په وجه په قتل ورساوه چې په عین حال کې دواړه د ادم علیه السلام زامن وو.

**٦- د حاسد دعا نه قبلېږي.**

:ثلاثة لایستجاب دعا هم: آکل الحرام، ومکثرالغیبة ومن کان فی قلبه غل او حسد للمسلمین. (رواه النسائی)

**ژباړه او حاصل:**

پیغمبر علیه السلام فرمایي، چې د دریو نفرو دعا نه قبلېږي:

حرام خوړونکی، ډېر غیبت کوونکی او هغه څوک چې په زړهٔ کې یې کینه او حسد وي لهٔ مسلمانانو سره.

**تنبیه:**

دعا چې یو بهترین عبادت دی او د عباداتو اصل دی خو متأسفانه چې د حاسد دعا اللهپاک نه قبلوي.

**٧- حسد د ایمان د ضعف سبب ګرځي:**

نبي کریم صلی الله علیه والسلام فرمایي:

لایجتمعان فی قلب عبد الایمان والحسد( قرطبی سورة الفلق)

ژباړه او حاصل:

نه یو ځای کېږي د مسلمان په زړهٔ کې ایمان او حسد، یعني د کامل مسلمان په زړهٔ کې حسد نه وي که د یو مسلمان سره حسد ملګری وي نو دا دده د ایمان د ضعف علامه ګڼل کېږي.

**د غبطې تعریف:**

تمنی الانسان ان یکون له مثل الذی لغیره من غیر ارادة اذهاب مالغیره. (الفروق اللغویة)

**ژباړه او حاصل:**

یو انسان چې د مثل د یو شي ارزو او امید وکړي کوم چې له بل چا سره وي نه پخپله د هغه شي چې له هغه څخه لرې شي. یعني یو څوک وغواړي چې کاش چې هغه د فلانکي په شان نعمت ماته اللهپاک راکړی وای داسې نه چې د هغه نعمت زوال یې مطلب وي، دا نو جایز او روا بلل شوي.

**د حسد او غبطې تر مینځ فرق:**

په حسد کې له محسود څخه د نعمت د زوال طمعه وي او په غبطې کې د نعمت د زوال ارزو نه وي.

**فایده:** غبطه د مؤمن صفت دی او حسد د منافق صفت دی.

**حسد له یو چاسره څه وخت په کار دی؟**

یو څوک هغه وخت حسد کولای شي او یو نعمت پر چا نه پېرزو کولای شي چې محسود یاکافر وي او یا که مسلمان هم وي؛ خو چې نعمت( مال،کمال، علم .....) د فتنې خورولو، د مسلمانانو تر منځ د اختلاف اچولو او یا چاته د ضرر رسولو لپاره استعمالوي. (احیاءالعلوم۳ ج۱۸۹ ص)

**د حسد اسباب( لاملونه):**

امام غزالي رح په احیاء العلوم کې د حسد اووه(٧) لاملونه ذکر:

**١-- بغض او دښمني:**

د دښمن له انتقام څخه چې یو څوک عاجزه شي نو بیا حسد ورسره شروع کړي او د نعمت زوال یې غواړي.

**٢- تکبر:**

یو څوک چې پر نورو ځان غټ ګڼي نو د بل چا د نعمت د زوال ارزومند وي، او وایي هسې نه چې پر ما ددې نعمت په وجه تکبر وکړي.

**٣- د رتبې او منصب محبت:**

څوک چې د لوړې مرتبې په فکر کې وي او د یو صفت په وجه د ځان مرتبه لوړه ورته ښکاره شي نو بیا یې دا صفت پر بل نه لورېږي.

**٤- بخل او کنجوسي:**

یو څوک چې د یو چا د نعمت زوال غواړي نو تر دې له مخه ور څخه د یوه شیز مانع ګرځي.

**٥- د مقاصدو فوت کېدل:**

یوه مقصد ته چې دوه نفره رسېدل غواړي او یو ورته ورسېږي نو هغه بل یې حاسد ګرځي.

**٦- ځان معزز ګڼل:**

چاته چې هم ځان عزتمند ښکارېږي نو پر بل یې کوم دا عزاز نعمت نه پېرزو کېږي.

**٧- تعجب:**

یو څیز ته چې یو څوک حیران شي نو له بله یې د زوال طمعه لري.

**تنبیه:** حسد ډېر رزیل او بد مرض دی،ځکه چې تر حسد مخکې به انسان پر یوهٔ بل مهلک مرض حتماً اخته وي چې حسد ورڅخه پیداکېږي لکه: بغض،تکبر،حب الرياسة،بخل او داسې نور....

## د حسد مراتب

### حسد درې مرتبې لري:

۱- د دښمن په بدحالت خوښېدل خو بې اختیاره،

اما د عقل تقاضا دا نه وي ،دا حالت بد ګڼي، انکار ورنه کوي او له دې حالت د اېستلو حلیه جوړوي؛ خو دا قسم حسد عفوه ده ځکه دا بې اختیاره ده.

۲- د دښمن په بد حالت خوښېدل تر دې چې دا خوښي یا په ژبه او یا نورو اندامونو ظاهره شي او دا قسم حسد قطعاً منعه ده.

۳- ددې دوو قسمونو په مابین کې هغه حالت دی چې د دښمن په بد حالت خوښي وي خو نه عقل دا بده ګڼي او نه له دې حالت د اېستلو چل جوړوي خو د حسد له اطاعت ځان بیا ساتي، ددې حالت اظهار په اندامونو نه کوي ، په دې مرتبه کې اختلاف ده خو بیاهم له ګناه څخه خالي نه ده (۱) (احیاء العلوم۳ج ۲۰۰۱ص)

## د حسد علاج(درملنه)

امام غزالي رح په احیاء العلوم کښې د حسد د علاج او درملنې دوه طریقې ښودلې:

۱- علمي

۲- عملي

حسد د زړه له سترو مرضونو څخه دی، چې درملنه يې یواځې د نافع علم او عمل په ذریعه کېږي:

### د علم په واسطه د حسد درملنه:

حسد په دنیا او اخرت کې د حاسد په ضرر او تاوان تمامېږي، محسود ته يې هېڅ تاوان نه ور ګرځي پرته له ګټې.

کله چې هم یو چاته پر دې ښه پوهه حاصله شي بیا نو د ځان دښمن او د ښمن ملګری نه ګرځي او حسد ورنه خامخا لرې کېږي. [أبو حامد الغزالي، إحياء علوم الدين، ۳/۱۹۶]

اخرت تاوان دی

### د دنیا تاوان:

حسد د دنیا ضرر دی، ځکه چې کوم نعمتونه الله پاک محسود ته ورکړي او یا يې مصیبتونه ورنه لرې کړي نو حاسد همېشه پر دې باندې غمجن، دردمند او په عذاب وي .

سره له دې چې په حسد سره خو اللهپاک هغه نعمتونه له محسود څخه نه اخلي. [أبو حامد الغزالي، إحياء علوم الدين، ۳/۱۹۶]

که چېرته د حسد په وجه یو نعمت له یو چا لرې کېدای بیانو له هېڅ مخلوق سره باید یو نعمت نه وای تر دې چې له مسلمان سره به ایمان هم نه وای، ځکه کافران نه غواړي چې څوک دې مسلمان پاتې شي، اللهتعالی فرمايي: ډېر اهل کتاب د حسد له وجې دا خوښوي چې تاسې له ایمانه راګرځېدلي وای او کافران شوي وای. [أبو حامد الغزالي، إحياء علوم الدين، ۳/۱۹۷]

### د اخرت تاوان:

حسد د اخرت لپاره ځکه ضرر دی چې د اللهتعالی په قضاء نه رضایت دی یعنې اللهج چې په خپل خفي حکمت سره کوم عدل په خپله باشاهي کې پلې کړی او تقسیم د نعمتونو يې په خپلو بنده ګانو کړی دا نا خوښه ګڼل دي ، چې دا نه رضا بالقضاده او د اللهتعالی عدل او تقسیم د نعمتونو بدګڼل ستر تېری دی په وحدانیت د اللهتعالی او یو قسم اعتراض دی په اللهتعالی باندې چې د ایمان او دین د زیان او تاوان سبب ګرځي. [أبو حامد الغزالي، إحياء علوم الدين، ۳/۱۹۶]

### محسود ته په دنیا او اخرت کې د حسد ګټه رسېږي.

### د دنیا ګټه:

د حسد ګټه محسود ته په دنیاکې دا دی چې حاسد له محسود سره دښمني کوي نو هر دښمن د خپل دښمن لپاره ښه ورځ نه خوښوي ، پر غم او درد يې خوشالېږي نو کله چې حاسد د حسد په وجه محسود ته هېڅ تاوان او ضرر نشي رسولی نو طبعاً پر دې حاسد خفه او غمجن وي او محسود دا خوښوي چې حاسد دې همداسې غمجن ژوند ترسره کړي چې په دنیا کې ښه ګټه خوشاله ژوند تېرول دی . [أبو حامد الغزالي، إحياء علوم الدين، ۳/۱۹۷]

### د آخرت ګټه:

محسود مظلوم ګڼل کېږي په تېره بیا چې د حاسد حسد قول او فعل ته را ووزي لکه حاسد د محسود غیبت او بدي بیانول شروع کړي، چې دا د محسود لپاره یوه تحفه بلل کېږي ځکه پهٔ دې سره د قیامت په ورځ د حاسد نېکی محسود ته ورکول کېږ تر دې چې حاسد مفلس او محروم شي لکه په دنیا کې چې له انعاماتو محروم دی. [أبو حامد الغزالي، إحياء علوم الدين، ۳/۱۹۷]

### د عمل نافع په ذریعه باندې د حسد علاج:

حسد حاسد ته حکم کوي او د حاسد نفس محکوموي پر دې چې د محسود بدي بیان کړي، له محسود سره تکبر وکړي، له محسود څخه د انعاماتو منعه وکړي؛ خو حاسد به ددې مقابله کوي او له تعقله به کار اخلي، که چېرته حسد ورته د محسود د بد بیانولو امر کول؛ نو دی دې د بدو پر ځای د محسود ښهٔوالی او نېکي بیان کړي، کهٔ پر تکبر يې باعث کول؛ نو دی دې لهٔ محسود سر تواضع او عاجزي شروع کړي او کهٔ د انعاماتو د منعه کولو هڅه يې کوله نو دی دې محسود ته انعامات ورکوي.

کله چې حاسد همداسې اعمال په لږ زحمت او تکلف سره تر سره کړي؛ نو د محسود محبت ورسره پیداکېږي او حاسد ته جوتېږي چې محسود له ماسره محبت کوي چې وروسته بیا حاسد له دې نېکي سره عادت شي او د دوی ترمنځ توافق او ملګرتیا پیداشي او د حسد ماده ختمه شي. [أبو حامد الغزالي، (إحياء علوم الدين، ۳/۱۹۹)

## کار بخش پاورهاوس و نصب تجهیزات تولید برق پروژه بند شاه و عروس آغاز شد



کار های بخش پاورهاوس و نصب تجهیزات تولید برق پروژه بند شاه و عروس به اثر سعی و تلاش رهبری وزارت آب و انرژی و توجه مقام رهبری امارت اسلامی افغانستان آغاز و طی یک برنامه با حضور محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر "آخندزاده" معین آب وزارت آب و انرژی، مولوی صدر اعظم "عثمانی" معین وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، داکتر عبداللطیف "نظری" معین وزارت اقتصاد، مولوی قدرت الله "جمال" معین وزارت صنعت و تجارت، ولسوال شکردره و شماری از مسئولین تخنیکی رسماً افتتاح و آبگیری کامل بند شروع گردید.

محترم معین آب در این برنامه اظهار داشت که تطبیق پروژه های بندهای بزرگ در اولویت کاری امارت اسلامی قرارداشته و ان‌شاءالله در آینده نزدیک بر علاوه بند شاه و عروس کار بند های دیگر نیز آغاز خواهد شد.

قابل ذکر است که تجهیزات مورد ضروت تولید برق بند متذکره به ساحه رسیده است که ان شاءالله در آینده نزدیک کار نصب تجهیزات نیز تکمیل خواهد شد.

پروژه بند شاه و عروس یکی از پروژه های بزرگ وزارت آب و انرژی بوده و دارای ظرفیت تنظیم 30 میلیون متر مکعب آب و ظرفیت تامین حدود 5 میلیون متر مکعب آب آشامیدنی در سال می باشد.

همچنان این بند ظرفیت تولید 1.2 میگاوات برق را دارا بوده و حدود 2700 هکتار زمین زراعتی را تحت آبیاری قرار می دهد

## د اوبو او انرژي وزارت د ښاغلي عزيزي د څرگندونو هرکلی کوي

د افغانستان د اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزارت د ملي پانگه‌وال ښاغلي مېرويس "عزيزي" د هغو څرگندونو تود هرکلی کوي چې نوموړی غواړي په افغانستان کې د انرژي او ريل پټلۍ په سکتورونو کې تر لس ميلیارده امريکايي ډالرو پورې پانگونه وکړي.

د اوبو او انرژي وزارت د نوموړي دغهٔ هڅواندني احساس ته د درنښت او هرکلي ترڅنگ، بلنه ورکوي چې د دغهٔ وزارت له رهبري او مسئولينو سره له نژدې وگوري او د انرژي په سکتور کې د پانگونې په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړي.

د اوبو او انرژي وزارت حاضر دی چې له نوموړي سره د انرژي په سکتور کې د خپلو مهمو پروژو په هکله اړين معلومات شريک کړي.

د اوبو او انرژي وزارت ښاغلي عزيزي او نورو ملي پانگه‌والو ته له خپل طرفه د هر ډول مرستې ډاډ ورکوي.

### په خوست ولايت کې د خټکي کلي استنادي دېوال د رغونې چارې د پنځه نيم ميليون افغانيو په ارزښت بشپړې او گټې اخيستنې ته وسپارل شو

د خوست ولايت د صبريو ولسوالي اړوند د خټکي کلي استنادي دېوال د رغونې چارې د پنځه نيم ميليون افغانيو (5500000) په ارزښت بشپړې او د خوست ولايت د شمل- خرم سينديزې فرعي حوزې رئيس محترم مولوي عبدالقيوم ثابت او ورسره مل تخنيکي ټيم، د اکرو موسسې مسؤلينو او يو شمېر قومي مشرانو او علماوو کرامو په شتون کې گټې اخيستنې ته وسپارل شو.

نوموړی استنادي دېوال 280 متره اوږدوالی لري، چې د جوړېدو چارې يې د اکرو موسسې له لوري، د يو اين ايچ سي آر موسسې په مالي لگښت د شمل خرم سينديزې فرعي حوزې تر څارنې لاندې پر مخ وړل کېدې، چې د چارو په بشپړېدو سره به يې گڼ شمير د استوگنې کورونه، علمي مرکزونه او کرنيزې ځمکې د سيلابونو له گواښ څخه خوندي شي.

### کمیته ولایتی انرژی ولایت پروان ایجاد گردید

کمیته ولایتی انرژی ولایت پروان تحت رهبری مقام ولایت مذکور با عضویت ریاست های حوزه فرعی دریایی غوربند چاریکار، اقتصاد، حفاظت از محیط زیست، برشنا، صنعت و تجارت و انکشاف دهات و شورای علما، آمریت تنظیم امور انرژی در سطح زون و شورای جوانان ایجاد گردید.

در نشست ایجاد کمیته مذکور مفتی محمد ادریس انوری معاون والی پروان و انجنیر مجیب الرحمن حبیبی رئیس حوزه فرعی دریایی غوربند چاریکار پیرامون اهمیت ایجاد کمیته مذکور و تولید انرژی از منابع داخلی در این ولایت و جذب سرمایه گذاری خصوصی صحبت های همه جانبه را ارائه نمودند.

همچنین، هیأت اعزامی مرکز نیز پیرامون اهداف ایجاد کمیته مذکور، وظایف و تشکلایت آن و همچنین پیرامون استفاده از منابع موجود مانند باد، آب و آفتاب در تولید انرژی در ولایت پروان معلومات لازم را ارائه نمود.

قابل یادآوری است که هدف از ایجاد کمیته مذکور طرح پالیسی های انرژی در هماهنگی با ادارات ذیربط، رسانیدن انرژی ارزان و دوامدار به ساحات شهری و دهاتی و جذب سرمایه گذاری خصوصی در بخش تولید انرژی در ولایت پروان می باشد.

## په میدان وردګو ولایت کې د پنځه چکډمونو د جوړولو چارې د 17 میلیون افغانیو په ارزښت بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د میدان وردګو ولایت په نرخ، چک، جلریز، جغتو او سید آباد ولسوالیو کې د پنځه چکډمونو د جوړولو چارې د 17 میلیون افغانیو په ارزښت بشپړې او د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، د میدان وردګو والي محترم قاري بختیار معاذ، د میدان ښار سینديزې فرعي حوزې رئیس محترم مولوي عبدالصمد حلیم او یو شمیر نورو سیمه ییزو مسئولینو او قومي مشرانو په شتون کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

ددغو چکډمونو ګټې اخیستنې ته د سپارلو پهٔ مراسمو کې د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور وویل، چې د افغانستان اسلامي امارت د پراختیایي پروژو د پلي کولو په برخه کې له ولس سره کړیو وعدو ته ژمن دی، چې نن یې د ۵ چکډمونو د جوړېدو چارې بشپړې او ګټه اخیستنې ته وسپارل شوې.

د یادونې وړ ده چې نوموړې پروژې د 17 میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو او انرژي وزارت په مالي لګښت سره پلي شوې او په راتلونکي کال کې به هم د میدان وردګو ولایت په دریو نورو ولسوالیو کې ورته چکډمونه جوړ شي.

نوموړي چکډمونه د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د پیاوړتیا، د موسمي سیلابونو د کنټرول او د کرنیزو ځمکو د خړوبولو په موخه جوړ شوي دي.

## د کمال خان بند د لاندینی برخې کانال د جوړولو چارې د 80 میلیون افغانیو په ارزښت بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د کمال خان بند د لاندینی برخې کانال د جوړولو چارې د 80 میلیون افغانیو په ارزښت بشپړې او د نیمروز مرستیال والي محترم حاجي روحاني، د هلمند سینديزې حوزې عمومي رئیس محترم الحاج قاري عبدالهادي هادي، د زرنج سینديزې فرعي حوزې رئیس محترم حاجي ناصر او د نیمروز ولایت د یو شمیر سیمه ییزو مسئولینو په شتون کې پرانیستل شوې.

نوموړی کانال، چې د کمال خان بند اوبه د نیمروز ولایت مرکز زرنج ښار ته لیږدوي، 14 کیلومتره اوږدوالی او 25 متره سور لري، چې چارې یې د افغانستان اسلامي امارت له بودجې څخه د 80 میلیون افغانیو په لګښت د څلورو میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.د هلمند سینديزې حوزې عمومي رئیس الحاج قاري عبدالهادي هادي د یاد کانال د پرانیستي په مراسمو کې وویل، چې د دغه کانال په پرانېستلو سره به نیمروز ولایت ته اوبه په چټکی سره ورسیږي او د لښکرګاه په کانال کې د نوموړي کانال د اوبو په بهېدلو سره به د نیمروز ولایت د خلکو اړتیاوې پوره شي.

## جلسه هفته وار تخنیکی و اداری معینیت انرژی تدویر یافت

این جلسه تحت ریاست محترم قاری محمد عبدالعزیز"عزیز" رئیس عمومی دفتر و وارسی کننده جلسات معینیت انرژی، با حضور روٴسا، مشاورین و مسئولین تخنیکی این معینیت برگزار گردید.

در این جلسه پیرامون چندین موضوع مهم انرژی از قبیل؛ موضوع تسلیمی بند شورابک و هماهنگی با شرکت بدخشان انرژی، حل مشکلات برق ولسوالی های پشتونکوت، بلچراغ و گرزیوان ولایت فاریاب، استراتیژی شبکه توسعه برق کشور و شماری دیگر از موضوعات مرتبط به پروژه های انرژی بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

پس از صحبت ها و تبادل نظر های لازم در مورد موضوعات متذکره تصامیم لازم اتخاذ و برای هماهنگی بیشتر سفارشات لازم به مسئولین ذیربط ارائه گردید.

## کار عملي پروژه چکدم برجک نمبر 1 در ولسوالی پغمان ولایت کابل به ارزش بیش از دو(2) میلیون افغاني به زودي آغاز خواهد شد

تیم تخنیکی حوزه فرعی دریایی کابل وسطی پروژه چکدم برجک نمبر 1 در ولسوالی پغمان ولایت کابل را خط اندازی نمودند که کار عملی آن به ارزش بیش از دو(2) میلیون افغانی به منظور تقویت آب های زیرزمینی شهر کابل، جمع آوری آب باران و جلوگیری از تخریب خانه های مسکونی به زودی آغاز خواهد شد.

## از میان۱۴۰ پروژه چکدم در یازده ولایت افغانستان قراردادهای اعمار ۷۳ چکدم امضاء شده است



وزارت آب و انرژی جهت مدیریت بحران آب، مدیریت و کنترول سیلابهای موسمی، تقویت منابع آب و کاهش خسارات سیلاب ها و خشکسالی در کشور، ۱۴۰ پروژه چکدم را در یازده ولایت کشور تطبیق می نماید که از جمله آن قراردادهای اعمار ۷۳ چکدم امضاء شده و از میان آنها کار ۷ چکدم تکمیل، کار ۳۳ چکدم جریان دارد و کارهای تدارکاتی ۳۳ پروژه دیگر آن نیز در جریان است که به زودی کارهای عملی آنها آغاز خواهد شد.قابل یادآوری است که براساس حکم مقام محترم ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان وزارت آب و انرژی در یازده ولایت کشور ۱۴۰ پروژه چکدم را به ارزش ۴۲۰ میلیون افغانی تطبیق می نماید که با تطبیق آنها در قسمت مبارزه با خشکسالی و مدیریت و تقویت منابع آبی کشور نقش ارزنده خواهند داشت.

---

## د افغانستان برېښنا شرکت د اساسنامې د تعدیل په هکله د همغږۍ ناسته ترسره شوه

په دغه ناسته کې، چې د برېښنا شرکت مدیره پلاوي د دایمي غړي محترم مفتي امیر عبدالله جهاند تر مشرۍ لاندې ترسره شوه، د اوبو او انرژي وزارت حقوقي سلاکار محترم سید عطاءالله صدیقي او د افغانستان برېښنا شرکت، مالیې، صنعت او سوداګرۍ او اقتصاد وزارتونو استازو هم ګډون درلود.

د ناستې په بهیر کې په مقدماتي توګه د افغانستان برېښنا شرکت د اساسنامې د تعدیل، د مسودې د څېړلو او د اړینو همغږیو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د ناستې غړو د نوموړي موضوع د ارزښت په هکله خبرې اترې وکړې او په ګډه سره یې د چارو د پرمخ وړلو په هکله اړین تصمیمونه ونیول.

### پروژه حفظ و مراقبت بند سرخاب ولایت لوگر به ارزش بیش از 11 میلیون افغانی افتتاح شد

این پروژه با حضور محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی، محترم مولوی ضیاالرحمن مدنی والی ولایت لوگر، مسئولین بلند رتبه امارت اسلامی، بزرگان قومی و جمعی زیادی از مردم ولایت لوگر افتتاح و کار عملی آن آغاز گردید.

محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در هنگام افتتاح این پروژه اظهار داشت که بزرگان امارت اسلامی با تعهد کامل و احساس مسئولیت پذیری شبانه روز تلاش می نماید تا هرآنچه را که به ملت وعده می سپارد جامه عمل بپوشاند.

در همین حال محترم شیخ ضیاالرحمن مدنی والی ولایت لوگر در این مراسم از اهمیت بند سرخاب سخن گفته از مردم خواست تا در راستای حفظ و مراقبت بند با وزارت آب و انرژی همکاری نمایند.

ازسوی هم محترم مولوی محمد اسماعیل آخندزاده رئیس حوزه فرعی ولایت لوگر و شماری از بزرگان قومی آن ولایت با اشاره مختصر به پروژه های تحت کار وزارت آب و انرژی در ولایت لوگر از فعالیت های این وزارت اظهار قدردانی کرد.

قابل یادآوری است که بند ذخیروی سرخاب که در ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر موقعیت دارد با داشتن 25 متر ارتفاع و 135 متر طول دارای ظرفیت ذخیره 9 میلیون متر مکعب آب بوده و حدود (3000) سه هزار هکتار زمین زراعتی را تحت آبیاری قرار می دهد.

## د اوبو او انرژي سرپرست وزير د ملي پراختيا شرکت له عمومي اجرايوي رئيس سره وکتل



د اوبو او انرژي سرپرست وزير محترم الحاج ملا عبداللطيف منصور د ملي پراختيا شرکت له عمومي اجرايوي رئيس محترم عبدالرحمن عطاش سره وکتل او د يو شمير ملي پروژو د پلي کولو د څرنگوالي په هکله يې بحث او د اندونو تبادله وکړه.

هيله کيږي، چې په نږدې راتلونکي کې د اوبو او انرژي وزارت او د ملي پراختيا شرکت د يو شمير مهمو ملي پروژو د پلي کولو په هکله موافقې ته ورسيږي.

## ورکشاپ مشورتی در مورد مشکل کم آبی شهر کابل برگزار شد

در این ورکشاپ که از سوی وزارت آب و انرژی با همکاری مالی مؤسسه یونیسف برگزار شده بود؛ روئسای سکتور آب وزارت آب و انرژی، رئیس برنامه واش مؤسسه یونیسف، مقام ولایت کابل، ریاست های سکتوری کابل (زراعت و مالداری، احیا و انکشاف دهات، حفاظت محیط زیست و آبرسانی شهری) اشتراک داشتند.

روئسای سکتور آب وزارت آب و انرژی و مسئول برنامه واش مؤسسه یونیسف هدف از برگزاری این ورکشاپ مشورتی را نهایی سازی طرح های ارائه شده غرض بهبود مدیریت منابع آبی شهر کابل و تهیه یک پروپوزل جامع به منظور حل مشکلات کم آبی در این شهر خواند. در جریان جلسه محترم انجنیر حبیب الرحمن حقپال رئیس عمومی حوزه دریایی کابل پرزنتیشنی را در مورد وضعیت منابع آب شهر کابل ارائه کرده همچنان اشتراک کنندگان پیرامون موضوع متذکره نظرات خویش را ابراز داشتند.

پس از بحث و تبادل نظر، شریک سازی معلومات و تجارب تخنیکی تصامیم لازم اتخاذ گردید تا طرح ها و پروپوزل های حل مشکلات کم آبی در شهر کابل نهایی و گام های موثر در آینده جهت اقدامات عملی آن برداشته شود.

### د نغلو د لس ميگاواټه لمريزې برېښنا پروژې د چارو له بهير څخه څارنه وشوه

د اوبو او انرژي وزارت د څارنې او ارزونې رئيس محترم حافظ محمد کليم منصور او ورسره مل تخنيکي ټيم د کابل ولايت د سروبي په ولسوالي کې د نغلو د لس ميگاواټه لمريزې برېښنا پروژې د چارو له بهير څخه څارنه وکړه.

د نومړي تخنيکي ټيم د ارزونو پر بنسټ د يادې پروژې چارې په معياري او منظمه توگه رواني دي او د چارو د لاغوره پرمخ وړلو او د اړينو همغږيو رامنځته کولو په موخه د پروژې مسئولينو ته اړيني سپارښتنې وشوې.

### تیم تخنیکی وزارت آب و انرژی جهت ایجاد هماهنگی در پروژه 100 میگاوات برق سولری ولایت هرات با نماینده گان ادارات ذیربط دیدار نمود

بر اساس پلان پنج ساله وزارت آب و انرژی پروژه 100 میگاوات برق سولری در ولایت هرات تطبیق خواهد شد که جهت ایجاد هماهنگی بیشتر در این پروژه تیم تخنیکی وزارت آب و انرژی با نماینده گان ادارات ذیربط دیدار و پیرامون پروژه متذکره بحث و تبادل نظر نمود.

در این دیدار مولوی سید عبدالسلام مستوفی آغا رئیس عمومی حوزه دریایی هریرود. مرغاب به تیم تخنیکی وعده همکاری همه جانبه را داد و از فعالیت های تیم مذکور نیز سپاسگزاری نمود.

در آخر، تیم تخنیکی و نماینده گان ادارات ذیربط ساحه مورد نظر را مشخص و ارزیابی نموده، سروی ساحوی، اقتصادی، اجتماعی، تخنیکی و تقاضای انرژی برای پروژه مذکور نیز با همکاری ادارات ذیربط که در آن قریه سرخه ولسوالی زنده جان شامل می باشد انجام شد.

## سرپرست وزارت آب و انرژی با بزرگان قومی ولسوالی روحانی بابا ولایت پکتیا دیدار کرد



محترم الحاج ملا عداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی با بزرگان قومی ولسوالی روحانی بابا دیدار نموده پیرامون پروژه های آب و برق در ولسوالی متذکره با انها صحبت نمودند.

در این دیدار بزرگان قومی ولسوالی روحانی بابا مشکلات و پیشنهادات خویش را باسرپرست وزارت آب و انرژی شریک نموده خواستار تطبیق پروژه برق رسانی، پروژه اعمار بند گاویان و تطبیق پروژه های چکدم در آن ولسوالی شدند.

سرپرست وزارت آب و انرژی در این دیدار از مجاهدت ها و قهرمانی های مردم ولسوالی یاد شده به نیکی یاد نموده ضمن تشویق آنها به وحدت و همدلی برای آنها اطمینان داد که با توجه به امکانات موجود به پیشنهادات آنها از سوی این وزارت رسیدگی صورت خواهد گرفت.

## د اوبو معینیت اونیزه تخنیکي ناسته ترسره شوه

دغه ناسته د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده تر مشري لاندې د اوبو سکتور د رئیسانو او تخنیکي مسؤلینو په ګډون ترسره شوه.

په دغه ناسته کې، د بېلابېلو تخنیکي موضوعاتو لکه د ملي پراختیا شرکت سره د همکاریو او د اوبو معینیت اړوندو ریاستونو د ۱۴۰۳ کال لپاره د کاري پلانونو د جوړولو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د ناستې په بهیر کې، رئیسانو د نوموړو موضوعاتو په هکله خپل معلومات او اندونه وړاندې کړل او وروسته، د اوبو محترم معین اړوندو مسؤلینو ته د چارو د لا غوره ترسره کولو لپاره اړین هدایات او سپارښتنې وکړې.

## په خوست ولایت کې د یو چکډم د جوړېدو چارې د نږدې دوه(2) میلیون افغانیو په ارزښت پیل شوې

د خوست ولایت د تنیو ولسوالۍ اړوند د ترخیلو کلي چکډم د جوړېدو چارې د یو میلیون او نه سوه یو اتیا زره درې سوه شپږ نوي(1981396) افغانیو په ارزښت د یاد ولایت د شمل خرم سینديزې فرعي حوزې رئیس محترم مولوي عبدالقیوم ثابت، د یاد ریاست تخنیکي سلاکار انجنیر مجاهدالله مشفق، یو شمیر سیمه ییزو مسئولینو او د تنیو ولسوالۍ قومي مشرانو په شتون کې پیل شوې.

نوموړی چکډم د اوبو او انرژي وزارت په مالي لګښت د 26 مترو په اوږدوالي، د تهداب په شمول د 6,5 مترو په لوړوالي، په تهداب کې د 4 مترو او په سر کې د 80 سانتي مترو په سور سره د مسید ودانیز شرکت له لوري د دوو میاشتو په موده کې جوړیږي.

په نوموړې پروژې کې لسګونو کاریګرو ته د کار زمینه چمتو کیږي او د چارو په بشپړېدو سره به یې لسګونه جریبه کرنیزې ځمکې د سیلابونو له ګواښ څخه خوندي شي.

د یادونې وړ ده، چې اوسمهال په خوست ولایت کې د څه باندې 16 میلیون افغانیو په ارزښت د 8 چکډمونو د جوړېدو چارې رواني دي او په یاد ولایت کې به د 7 نورو چکډمونو د جوړېدو چارې هم ډیر ژر پیل شي.

## سروی تخنیکی شماری از چکدم ها در ولسوالی دشت قلعه ولایت تخار انجام شد

تیم تخنیکی حوزه فرعی دریایی پنج پایینی دشت قلعه سروی تخنیکی شماری از چکدم ها را در ساحه سیلبر کوچی‌های ولسوالی دشت قلعه ولایت تخار انجام داد.

با اعمار این چکدم ها آب های زیرزمینی ساحه متذکره تقویت گردیده و دو صد هکتار زمین للمی نیز آبیاری خواهد شد

## د اوبو او انرژي وزارت د پروژو د پلي کولو په موخه د ملي پراختیا شرکت له مسؤلینو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه



د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور په یوه ناسته کې په داسې حال کې چې د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده او د دغه وزارت یو شمیر رئیسانو هم ګډون درلود، د ملي پراختیا شرکت له رئیس محترم عبدالرحمن عطاش سره د دغه وزارت د پروژو د پلي کولو په هکله خبرې وکړې.

په دغه ناسته کې، د دغه وزارت د پروژو لکه د ۴۲ بندونو د جوړولو پروژو او په کنړ ولایت کې د ګمبیري د اوبو او برېښنا بند د پلي کولو د څرنګوالي د همغږي په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د پروژو د پلي کولو په برخه کې د دغه وزارت د همکاریو په هکله ډاډ ورکړ او د لا زیاتو همکاریو او د چارو پر چټکتیا باندې ټینګار وکړ.

په ورته مهال، د ملي پراختیا شرکت رئیس هم وویل چې نوموړی شرکت هڅه کوي، چې د بنسټیزو او اړینو پروژو په پلي کولو سره هېواد د ځان بسیاینې په لور وخوځوي.

په پای کې،د اوبو او انرژي وزارت او د نوموړي شرکت ترمنځ د چارو د چټکتیا او لا زیاتو همغږیو د رامنځته کولو په موخه هوکړه وشوه، چې د دواړو لورو له تخنیکي ټیمونو څخه یو ګډ کمېسیون رامنځته شي او د پروژو د چارو په پرمخ وړلو کې په ګډه کار وکړي.

## جلسه هفته وار تخنیکی و اداری معینیت انرژی تدویر یافت

این جلسه تحت ریاست محترم قاری محمد عبدالعزیز "عزیز" رئیس عمومی دفتر و وارسی کننده جلسات معینیت انرژی با حضور روئسا، مشاورین و مسئولین تخنیکی این معینیت برگزار شد.

رئیس عمومی دفتر و وارسی کننده جلسات معینیت انرژی در این جلسه با اشاره به اهمیت مسئولیت های سکتور انرژی از فعالیت های این معینیت در بخش های ارتقای ظرفیت منابع بشری و ایجاد اصلاحات لازم به خوبی یاد نموده، تاکید کرد که تلاش ها صورت می گیرد تا تجهیزات مورد نیاز نیز در آینده فراهم گردد.

در ادامه جلسه پیرامون موضوعات مختلف تخنیکی و اداری از قبیل مدیریت و تنظیم امور، استراتیژی توسعه شبکه برق کشور و چگونگی پیشرفت امور تطبیق پروژه 10 میگاوات برق سولری نغلو بحث و تبادل نظر صورت گرفته تصامیم لازم اتخاذ گردید.

## د کندز ولایت د چهار درې ولسوالي د عمومي کانال د پروژې د پاکاري چارې د ۷ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې

د کندز ولایت د چهار درې ولسوالي د عمومي کانال د پروژې د پاکاري چارې د ۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د پنج آمو سیندیزې حوزې عمومي رئیس محترم مولوي عبدالحکیم حاجي حکمت، د ډي اې آی موسسې عمومي رئیس محترم محمد داود امین زي، د چهار درې مرستیال ولسوال محترم هجرت الله خبیب او یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو او قومي مشرانو په شتون کې پیل شوې.

ښاغلي حاجي حکمت د دغې پروژې په پرانیست غونډه کې د هغې په هکله بشپړ معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه، چې په دغه پروژه کې تر ۴۰۰ زیاتو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده او ټینګار یې وکړ، چې چارې یې باید په ټاکلي وخت سره پای ته ورسیږي.

د یادونې وړ ده، چې د نوموړې پروژې چارې د ډي اې آی موسسې په مالي ملاتړ د ۷ کیلو مترو په اوږدوالي سره ترسره کېږي.

## د غوربند چاریکار سیندیزې فرعي حوزې او په پروان ولایت کې د عزیزي بانک څانګې ترمنځ د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو

یاد هوکړه لیک د غوربند چاریکار سیندیزې فرعي حوزې رئیس انجنیر مجیب الرحمن حبیبي او په پروان ولایت کې د عزیزي بانک څانګې د استازي ترمنځ د پیسو راټولولو په برخه کې د روڼتیا او اسانتیاوو رامنځته کولو لپاره د اوبو ګټه اخیستونکو ټولنو ته د بانکي حسابونو د جوړولو په موخه لاسلیک شو.

د غوربند چاریکار سیندیزې فرعي حوزې رئیس انجنیر مجیب الرحمن حبیبي وویل، چې نوموړې حوزه له خپلو ټولو امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره هڅه کوي ترڅو د اوبو ګټه اخیستونکو ټولنو ته کاري اسانتیاوې رامنځته کړي.

## د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ معین همکارانو ته ور وپېژندل شو او په دغه معینیت کې یې رسماً خپله دنده پیل کړه




محترم مولوي حمدالله زاهد چې تر دې مخکې یې په مالیې وزارت کې د اداري معین په توګه دنده ترسره کوله، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم پر بنسټ د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ معین په توګه ټاکل شوی او په یوې ناستې کې د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور له لوري همکارانو ته ور وپېژندل شو.

د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر د انرژۍ معین د ور پېژندلو پر مهال د دغه سکتور ارزښت ته په اشارې سره یادونه وکړه، چې په هېواد کې د انرژۍ سکتور د پراختیا لپاره ډېرې هڅې ترسره شوې او له نیکه مرغه د دغو هڅو له کبله د نوموړي معینیت چارې سمبال شوې او د برېښنا انرژۍ د تولید او پراختیا لپاره هم ارزښتناکې کړنې ترسره شوې دي.

ښاغلي منصور زیاته کړه، تمه ده چې له دې وروسته د معین صاحب په شتون کې چې یو رښتینی، وړ او با اخلاص کس دی، د انرژۍ سکتور د پراختیا په برخه کې لا اغېزمن ګامونه پورته شي.

په ورته مهال، د چارو اداري عمومي ریاست مالي او اداري مرستیال محترم مولوي محمد صابر معتصم باالله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم د لوستلو ترڅنګ، د افغانستان د اسلامي امارت په اډانه کې د انرژۍ د نوي معین کړنې وستایلې او هغوی ته یې د افغانستان د خلکو لپاره د خدمت ترسره کولو په برخه کې د لا زیاتو توفیقاتو غوښتنه وکړه.

همدغه راز، د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ نوی معین محترم مولوي حمدالله زاهد هم په دغه ناسته کې وویل، چې مقام او دنده یو ویاړ نه بلکې یو درووند مسؤلیت دی، چې مونږ د هغه په واسطه آزمایل کېږو. هغه ټینګار وکړ، چې اوسمهال مونږ ټول په الهي آزموینه کې یو، او په دغه ډګر کې له یوې خوا د خدای(ج) په وړاندې مسؤل یو او له بلې خوا د افغانستان ملت هم پر مونږ باندې حق لري چې هغوی ته په رښتینې توګه خدمت وکړو.

غونډه د پایدارې انرژۍ د عمومي رئیس محترم مولوي عزیزالله سهار له خوا په دعا سره پای ته ورسېده.

### نشستی به منظور رسمی سازی سیستم میراب ها در ولسوالی امام صاحب ولایت کندز برگزار گردید

این نشست با حضور الحاج مولوی عبدالحکیم حاجی حکمت رئیس عمومی حوزه دریایی پنج آمو، مولوی عبدالغفور شهیدزی رئیس مقام ولایت کندز، مولوی گل محمد الیاس ولسوال ولسوالی امام صاحب ولایت کندز و شماری دیگر از مسئولین محلی و دهاقین برگزار گردید.

در این نشست، رئیس عمومی حوزه دریایی پنج آمو رسمی سازی سیستم میراب ها بر اساس طرزالعمل وزارت آب و انرژی را در حل و فصل منازعات آبی یک گام موثر خوانده، از همه دهاقین درخواست نمود که در فضای اخوت و همدلی با همدیگر همکاری نمایند

### د پکتیا ولایت کروندګرو ته د ځمکې لاندې اوبو له سرچینو څخه د عادلانه او اغیزمنې ګټې اخیستنې په هکله سمینار دایر شو

دغه سمینار د پکتیا ولایت د سینډیزې فرعي حوزې او ولایتي کمیټې له لوري د پکتیا مرستیال والي الحاج شیخ انعام الله صلاح الدین، د پکتیا ولایت د سینډیزې فرعي حوزې رئیس الحاج مولوي محمد کریم فاتح، سیمه ییزو مسؤلینو، قومي مشرانو او ګن شمیر کروندګرو په شتون کې ترسره شو او د اوبو سرچینو د ساتنې، اغیزمنې ګټې اخیستنې، د اوبو د مدیریت، وچکالي، د اوبو لګولو د نویو سیستمونو، د کرنیزو نباتاتو او بوټو د کرکیلې او د اوبو د اړتیاوو په هکله پریزنټیشنونه وړاندې شول.

په یاد سمینار کې د پکتیا سینډیزې فرعي حوزې رئیس الحاج مولوي محمد کریم فاتح د اوبو سرچینو د ساتنې، سمې ګټې اخیستنې او د اوبو د بې ځایه مصرف د مخنیوي په هکله وینا وکړه او له کروندګرو څخه یې د اوبو د لا غوره مدیریت په برخه کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

## سرپرست وزارت آب و انرژی با والی ولایت نیمروز دیدار کرد



محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش با محترم شیخ محمد قاسم خالد والی ولایت نیمروز دیدار نموده پیرامون پروژه های آب و انرژی در آن ولایت صحبت نمودند.

در این دیدار والی ولایت نیمروز از کارکردهای این وزارت اظهار قدردانی نموده راه اندازی و تطبیق پروژه های چکدم در ولایات مختلف کشور را یک گام مثبت در راستای مدیریت آب و تقویت منابع آبهای زیرزمینی خواند. وی همچنان در این دیدار به مشکلات مردم نیمروز در راستای پروژه های آب و برق اشاره نموده از مقام رهبری وزارت خواستار همکاری گردید.

سرپرست وزارت آب و انرژی به والی ولایت نیمروز اطمینان داد که با توجه به امکانات موجود به مشکلات آنها رسیدگی خواهد شد.

## د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د هېواد د نوموتي قاري مرحوم برکت الله سلیم له کورنی سره غمرازي وکړه

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور د هېواد د نوموتي قاري مرحوم برکت الله سلیم د وفات له کبله د هغه له کورنی سره د خواخوږي څرګندولو په موخه د هغه کور ته ولاړ او دده مشر ورور او خپلوانو ته یې د تسلیت مراتب وړاندې کړل.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د مرحوم قاري برکت الله سلیم له خدمتونو څخه ستاینه وکړه او د هغه مړینه یې د هېواد لپاره یوه ستره ضایعه وبلله او زیاته یې کړه، چې دا تشه به ژر ډکه نشي.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د لوی خدای(ج) له درباره څخه مرحوم قاري برکت الله سلیم ته د فردوس جنت او کورنی ته یې د جمیل صبر، جزیل اجر او نعم البدل غوښتنه وکړه.

### د لوګر ولایت د سرخاب بند د ساتنې او مراقبت پروژې چارې شاوخوا دیرش(30) سلنه بشپړې شوي دي

د لوګر ولایت د سرخاب بند د ساتنې او مراقبت پروژې چارې شاوخوا دیرش(30) سلنه بشپړې شوي دي او اوسمهال یې چارې جریان لري.

د نوموړې پروژې چارې په 1402/09/25 پیل شوې او په 1403/02/25 به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

### پکتیکا ولایت کې د ترخه چکډم د جوړولو قراردادي شرکتونو ته ساحه وسپارل شوه او ورته د کار د پیل مکتوب ورکړل شو

د ګومل سیندیزې فرعي حوزې مسؤلینو د پکتیکا ولایت د یوسف خېلو ولسوالي د خیربین کلي د ترخه چکډم د جوړولو قراردادي شرکتونو ته ساحه وسپارله او د کار د پیل مکتوب یې ورکړ.

د نوموړي چکډم د جوړولو قرارداد د اڅکزي او حمیدي ودانیزو شرکتونو سره د څه باندې پنځه میلیونه افغانیو په ارزښت لاسلیک شوی او اړوندو مسؤلینو ته د کار د پرمخ وړلو په موخه اړینې لارښوونې وشوې.

### از نحوه مصرف آب‌های زیرزمینی در ولایت پروان نظارت صورت گرفت

مسئولین حوزه فرعی دریایی غوربند-چاریکار از نحوه مصرف آب‌های زیرزمینی در ولسوالی بگرام ولایت پروان جهت تنظیم بهتر آب نظارت نمودند و به مصرف کنندگان آن جهت تنظیم و استفاده بهتر از آب هدایات لازم را داد.

همچنان، مسئولین حوزه متذکره در ولسوالی مذکور از حفر خود سرانه چندین حلقه چاه جلوگیری نمودند.

## د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د پکتیکا له والي سره وکتل



د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور د خپل کار په دفتر کې د پکتیکا له والي محترم مولوي فیض الله جمال حقاني سره وکتل او په هغه ولایت کې د اوبو او انرژي پروژو په هکله یې خبرې وکړې.

په دغه لیدنه کې، د پکتیکا والي د اوبو او انرژي په برخه کې د هغه ولایت د خلکو ستونزې د اوبو او انرژي له سرپرست وزیر سره شریکې کړې او په دې برخه کې یې د وزارت د رهبري مقام د پاملرنې غوښتنه یې وکړه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د پکتیکا ولایت د خلکو د محرومیت په تائید سره د هغه ولایت والي ته ډاډ ورکړ، چې د شته امکاناتو په پام کې نیولو سره به د دغه وزارت له لوري اړینې هلې ځلې ترسره شي، ترڅو د نوموړي ولایت د خلکو ستونزو ته رسیدگي وشي.

## معین آب وزارت آب و انرژی از پروژه اضطراری دکه های گبیونی تحکیمات سواحل دریای آمو در ولایت کندز بازدید کرد

محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده، معین آب وزارت آب و انرژی همراه با شماری از روئسای مرکزی این معینیت و محترم مولوی سید غلام مشوانی، رئیس تحکیمات سواحل دریای آمو از پروژه اضطراری دکه‌های گبیونی در قریه نجم الدین برزنگی در ولسوالی امام صاحب ولایت کندز بازدید کرد.

معین محترم آب حین بازدید از امور این پروژه به مسئولین ذیربط جهت پیشبرد بهتر و تسریع آن هدایات و سفارشات لازم را داد و افزود که به هدف کاهش تخریب خسارات دریای آمو باید مسیر آب به مسیر اصلی آن بازگردانده شود.

همچنان معین محترم آب در سفر خویش به ولایت کندز از شرکت تولیدی سپین زر بازدید کرد و از سوی مسئولین شرکت متذکره برای شان در مورد این شرکت معلومات همه جانبه ارائه گردید.

### پروژه اعمار چکدم غوند میله در ولایت خوست به ارزش نزدیک به دونیم میلیون افغانی آغاز شد

پروژه اعمار چکدم غوند میله در مربوطات ولسوالی باک ولایت خوست به ارزش دو میلیون و چهار صدو نودو چهار هزار(2494000) افغانی با حضور محترم مولوی عبدالقیوم ثابت، رئیس حوزه فرعی دریایی شمل- خرم، محترم مولوی نقیب الله تحسینی، ولسوال باک و شماری دیگر از مسئولین محلی و متنفذین قومی آغاز گردید.

رئیس حوزه فرعی دریایی شمل- خرم در مراسم افتتاح کار این چکدم پیرامون اهمیت آن صحبت نمود و افزود که این چکدم با طول 30 متر و ارتفاع 6 متر اعمار می‌گردد.

آقای ثابت همچنان از مسئولین شرکت قراردادی این پروژه خواست که کار آن را با بهترین کیفیت و وقت معین به انجام برسانند.

با تکمیل شدن کار این پروژه، 10 هزار متر مکعب آب ذخیره و سالانه در حدود 25 هزار متر مکعب آب در ذخیره آب‌های زیرزمینی اضافه خواهدشد و شمار زیادی از زمین های زراعتی از تخریب سیلاب ها محفوظ خواهند شد.

کار این پروژه با هزینه وزارت آب و انرژی از سوی یک شرکت داخلی به پیشبرده می‌شود که در آن برای ده‌ها تن زمینه کار مهیا گردیده است.

### د لاندنې هریرود سیندیزې فرعي حوزې رئیس د چینا- افغانستان د کانونو را ایستلو او پروسس شرکت له مسؤلینو سره وکتل

د لاندنې هریرود سیندیزې فرعي حوزې رئیس محترم مفتي سردار ولي مزمل د چینا- افغانستان د کانونو را ایستلو او پروسس شرکت له مسؤلینو سره وکتل او د دغه شرکت د اړتیا وړ اوبو د برابرولو په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه.

په دغه لیدنه کې، ښاغلي مزمل د نوموړي شرکت مسؤلینو ته د دوی د اړتیا وړ اوبو د برابرولو په برخه کې د هر راز همکاري ډاډ ورکړ.

## د اوبو او انرژي سرپرست وزير د فراه له والي سره د هغه ولايت د پروژو په هکله خبرې وکړې



د اوبو او انرژي سرپرست وزير محترم الحاج ملا عبداللطيف منصور د خپل کار په دفتر کې د فراه له والي محترم مولوي غوث الدين "رهبر" سره وکتل.

په دغه ليدنه کې، د فراه ولايت د بخش آباد بند پروژې د پرمختگ او په هغه ولايت کې د اوبو او انرژي د يو شمېر نورو پروژو په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه.د فراه والي د هغه ولايت د خلکو ستونزې او وړانديزونه د اوبو او انرژي وزارت د رهبري مقام سره شريک کړل او په هغه ولايت کې د اوبو او انرژي پروژو د پلي کولو غوښتنه يې وکړه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزير د فراه والي ته ډاډ ورکړ، چې د بخش آباد بند پروژه تل د دغه وزارت په کاري لومړيتوبونو کې ځاي درلودلى او همدارنگه د ۱۲ ميگاواټه په وړتيا د لمريزې برېښنا د توليد پروژه چې شپږ ميگاواټه يې د مرکز او پاتې نور يې د سرحدي ولسواليو لپاره په پام کې نيول شوې ده په راتلونکي کې به د شبکې له پراختيا سره پلي شي.

## د اوبو معينيت اونيزه تخنيکي ناسته ترسره شوه

دغه ناسته د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معين محترم مجيب الرحمن عمر آخندزاده تر مشرۍ لاندې د رئيسانو او ياد معينيت د يو شمير نورو تخنيکي مسؤلينو په گډون ترسره شوه.

په دې ناسته کې د دوو مهمو موضوعاتو لکه ددغه وزارت د ۱۴۰۳ مالي کال په پلان کې د ۴۲ سترو بندونو په مجموعه کې د کندهار ولايت د لوره ارغستان او د غزني ولايت د سلطان بندونو شاملولو او د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي کميسيون د مصوبې پر بنسټ د اوبو تاسيساتو د حريمونو د اجاره ورکولو د څرنگوالي په هکله بحث او د اندونو تبادله وشوه او اړين تصميمونه ونيول شول.

### لغمان ولايت ته د نهر شاهي كانال د سروې، ساحوي آزموينو او له سيمې څخه د بېلگې اخيستنې په موخه تخنيکي ټيم لېږل شوی دی

د اوبو او انرژي وزارت تخنيکي ټيم لغمان ولايت ته د نهر شاهي کانال د سروې، ساحوي آزموينو او له سيمې څخه د بېلگې اخيستنې په موخه لېږل شوی دی.

د وزارت تخنيکی ټيم به د نوموړې کانال له سيمې څخه بېلگې د حجمي وزن او طبيعي رطوبت د معلومولو لپاره لابراتوار ته راوړي.

### پروژه چکدم پنه ولايت غزنی به زودی به بهره برداری سپرده خواهد شد

کار ساختمانی پروژه چکدم پنه ولايت غزنی 95 درصد پيش‌رفته و به زودی به بهره برداری سپرده خواهد شد.با به بهره سپردن چکدم متذکره آب‌های زير زمينی تغذيه و همچنين از تخريب سيلاب‌ها جلوگيری خواهد شد.

شايان ذکر است که در اين پروژه به شماری زيادی از مردم محل زمينه کار مساعد شده است.

### بغلان ولايت کې د دوو چکډمونو تخنيکي سروې ترسره شوه

د بغلان سينديزې فرعي حوزې مسؤلينو د بغلان ولايت د مرکز پلخمري اړوند د دامن تاوې او گدچينې سيمو کې د دوو چکډمونو تخنيکي سروې ترسره کړه.

په نوموړو سيمو کې د نوموړو چکډمونو په جوړېدو سره به د ځمکي لاندې اوبه پياوړې او کرنيزې ځمکې به د سيلابونو له ويجاړيو څخه خوندي شي.

## د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه له دارالایتام څخه د فارغ شوو حافظانو په فراغت غونډه کې ګډون وکړ

اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور تېره ورځ د میدان وردګو ولایت د سیدآباد والسوالۍ تنګي درې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دارالایتام څخه د فارغ شوو حافظانو د دستاربندۍ په مناسبت هغه غونډه کې ګډون وکړ چې د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده، د میدان ورګو والي قاري بختیار معاذ او ګڼ شمېر قومي مخورو، علمي او جهادي شخصیتونو او د سیمې اوسیدونکو پکې برخه اخیستې وه

.دا چې په نوموړي دارالایتام کې په سلګونو تنه یتیمان په عصري او دیني زده کړو بوخت دي، تېره ورځ د حافظانو فراغت غونډه ترسره شوه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د حافظانو کورنیو ته د مبارکۍ تر څنګ د یتیمانو پالنه خپله دیني او ملي وجیبه وبلله او ټینګار یې وکړ چې په نوموړې برخه کې به هر اړخیزه مرسته کوي او د یتیمانو پالنه یې د ټولنې د هر فرد مسؤلیت وباله.

دا چې د نوموړي دالایتام رغنیزې چارې د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین محترم الحاج انجنیر مجیب الرحمن عمر آخندزاده په مالي ملاتړ پیل شوې وې؛ د جومات، کمپیوټر لب او د دارالایتام ودانۍ په شمول بشپړې او ګټه اخیستنې ته وسپارل شو.

## د هندي «شنکرانارایانا» شرکتونو د ډلې استازو د اوبو له معین سره په لیدنه کې د اوبو په پروژو کې پانګونې ته لېوالتیا وښوده



د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین محترم مجیب الرحمن عمر آخندزاده د هندي «شنکرانارایانا» شرکتونو د ډلې له استازو سره لیدنه وکړه او د اوبو په پروژو کې د پانګونې په هکله بحث او د اندونو تبادله وکړه.

په دغه لیدنه کې، د نوموړو شرکتونو د ډلې استازو په افغانستان کې د خپلې پانګونې لېوالتیا په ځانګړې توګه د اوبو د پروژو د پلي کولو په برخه کې څرګنده کړه.

د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د هغوی لېوالتیا وستایله او ویې ویل چې اوسمهال په افغانستان له هره پلوه د پانګونې لپاره زمینه چمتو ده او د اوبو او انرژي وزارت رهبري د هر اړخیزې همکارۍ ترڅنګ، د دغه وزارت په پروژو کې د پانګونې هرکلی کوي.

په پای کې، دواړو لورو پر لازیاتو همغږیو او د ګډو همکاریو د چارو په ترسره کولو باندې ټینګار وکړ.

## امتحان نصاب تعلیمی دعوت و ارشاد در وزارت آب و انرژی اخذ گردید

این امتحان از سوی ریاست دعوت و ارشاد با حضور محترم مولوی گل رحمن عارف رئیس دعوت و ارشاد وزارت آب و انرژی، محترم مولوی محمد یحیی عارف نماینده وزارت امر به معروف و نهی از منکر با اشتراک صدها تن کارمندان وزارت آب و انرژی در تالار عمومی کنفرانس های این وزارت اخذ گردید.

محترم مولوی محمد یحیی عارف در هنگام برگزاری این امتحان کارمندان این وزارت را به اطاعت از امرا و اشتراک در برنامه های آموزشی اسلامی تشویق نموده برگزاری این امتحان را نیز در راستای یادگیری بیشتر موثر خواند.قابل یادآوری است که دروس نصاب تعلیمی ریاست دعوت و ارشاد پیش از این به صورت روزانه بعد از نماز ظهر در مسجد شریف وزارت توسط مبلغین ریاست دعوت و ارشاد وزارت آب و انرژی ارائه شده بود.

## کابل ښار کې د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د تغذیې په موخه څه باندې ۱۲۰۰ کرې جذبې څاګانې کېندل شوې دي

د اوبو او انرژي وزارت مسؤلینو د کابل ښار په بېلابېلو سیمو کې د اوبو په کاروونکو او سترو ګټو اخیستونکو باندې په ۱۴۰۲ کال کې ۱۲۲۰ کرۍ جذبې څاګانې د کابل ښار د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د تغذیې په موخه کېندلې دي.

نوموړې څاګانې د موسمي بارانونو د اورېدلو په صورت کې په یو کال کې نهه اویا زره، یو سلو اووه اویا اعشاریه نهه سوه پنځه شپېته( 79177،965 ) متر مکعب اوبو د ذخیره کولو وړتیا لري، چې د ځمکې لاندې پوړونو کې به زیرمه شي.

## نحمده و نصلی علی رسوله الکریم. امابعد

## بسم الله الرحمن الرحیم

لیکوال: دوکتور فاروق اعظم

**أَلَّذینَ آمَنُوا یُقاتِلُونَ فی سَبیلِ اللهِ، وَ الَّذینَ کَفَرُوا یُقاتِلُونَ فی سَبیلِ الطّاغُوتِ؛ فَقاتِلُوا أَوْلِیاءَ الشَّیْطانِ إِنَّ کَیْدَ الشَّیْطانِ کانَ ضَعیفاً – صدق الله العظیم**

### مجاهدینو څنګه سور لښکر مات کړ؟

نن د دلوې ۲۶ یا د فبرورې ۱۵، په افغانستان کې د شوروي سرهٔ فوځ د ماتې ورځ ده. پوره ۳۵ کاله مخکې په همدې ورځ د شوروي سُور لښکر وروستی عسکر له افغانستانه ووت او جنرال گروموف د حیرتان پر پُله شوروي ته د اوښتلو په وخت کې افغانستان ته مخ را واړاوه او ویې ویل: «نن زموږ نظامي حضور په افغانستان کې ختم سو او وروستی عسکر مو له دې هېواده ووت. موږ ولاړو، بیا نه راځو؛ خو دا خاوره به لس کاله د خپل بچیانو سره جنګیږي». رشتیا هم، ۳۵ میلیونه ماینونه دوی د افغانستان په لارو، کروندو او باغونو کې کرلي وه، چې تر اوسه زموږ پر خلکو چوې او کوم اور چې دوی بل کړی و، ډېر کلونه بلېدهٔ چې تر اوسه یې لا تریخ دود نه دی ورک.

خلقیان او پرچمیان چې په کمونستانو مشهور وه، اسلامي ضد مفکوره او بېحده ظلمونه چې په میلیونونه انسانان یې تعذیب، ورک، مړه او بې کوره کړل، له یوې خوا، او له بلې خوا د اسلام او حب الوطن په جذبه، زموږ د مجاهد ملت مقاومت او مؤثر گوریلایي تاکتیکونه، د افغانستان جغرافیایي جوړښت، د جهاد پراخ ولسي ملاتړ، او ورسره د شورویانو غلطه جنګي ستراتېژي، پر روسانو نړیوال فشار او د مجاهدینو سره بهرنۍ مرستې، دا ټول د شوروي او کمونسټ حکومت په ماته کې مؤثر وه.

د کمونستانو بېدیني، ډېر ظلم او پر پردو تکیه، بېرحمه سیاسي تصفیې او دکتاتوري نظام، ددوی د حکومت او ملت ترمنځ فاصله ورځ په ورځ ډېروله. مثلاً، بي بي سي اورېدل لوی جرم و. زما سره د نورمحمد تره‌کي او حفیظ الله امین په وخت کې په ده مزنګ او پلچرخي کې ډېر کسان د بي بي سي د اورېدو په جرم بندیان وه. زموږ د اتاق د ضابط ظاهر دوه ملګري یې په همدې جرم چې بي بي سي یې اورېدلی وه، تر وهلو لاندې مړه کړل او خپله ضابط صاحب یې دومره وهلی و، چې لیونی کړی یې و. هغه بي بي سي نه وه اورېدلې؛ خو هغه په دې جرم دومره تعذیب سو او له نیکه‌مرغه ژوندی پاته سو، چې ددهٔ هغه نورو دوو ملګرو ددهٔ په دفتر کې چې دی نه و، د بي بي سي خبرې کړې وې. همدا راز د خلقیانو بې له مناسب پلان او لازمي تیاري څخه په عجله له نورو را کاپي سوی ټولنیز او اقتصادي ریفورمونو عملي کولو په ولس کې ټولنیز تشنج راوست او په هېواد کې هغه اقتصادي روند چې د داؤدخان په وخت کې څه رونق موندلی و، په شا وتمباوه ولس عکس العمل وښود او مقاومت یې وکړ. حکومت بې له دې چې د ولس خوابدي جدي ونیسي، هغه یې عادي موضوع بلل او زور یې کاوه. چې څومره حکومت زور کاوه هغومره د ولس مقاومت زور اخیست. دغو فشارونو د حاکم خلق کمونست ګوند په منځ کې چې وروسته یې پرځان د وطن ګوند نوم کښېښود، موجود درزونه نور هم ډېر کړل. دوی خپل د ناکامیو پړه پر یو بل اچول، یو بل یې بندیان او مړه کړل؛ څو په نتیجه کې ټول، روس او داخلي ملګري یې د مجاهدینو په وړاندې ناکام سول.

مجاهدینو ته اول سر نړیوال ملاتړ نه و حاصل؛ خو کله چې غربي نړۍ پوه سوه، چې افغانان د کمونست حکومت او شوروي سرهٔ لښکر خلاف مؤثره مقابله کوي، بیا یې کرار کرار او په تدریج مرسته ورسره پیل کړه، په تدریج څکه چې امریکا نه غوښته شوروي یو دم ډېر تر فشار لاندې راسي، هسې نه شدید عکس العمل وښیي او امریکا ته بل ځای سرخوږی جوړ کړي. که څه هم د غرب دغه کار جهاد اوږد او د مجاهدینو تلفات ډېر کړل؛ خو د مجاهدینو قوي ایمان، صبر و ثبات او راسخې عقیدې بالاخره دوی کامیاب کړل.

د جهاد په پیل کې او تر ډېره وخته د افغانستان فضاء مکمله د شوروي په واک کې وه؛ خو کله چې مجاهدینو ضدهوائي وسله وموندله؛ نو یې د شوروي څواک بالادستي وګواښل. شوروي سرهٔ فوځ ته سخته وه، چې بې له هوایي چتره یوازې د مځکني قواؤ په زور پر مجاهدینو برلاسه سي. دا څکه مجاهدین په مخامخ جګړه کې تر سره فوځ ډېر دلاور وه، روحیات یې قوي وه، په وطن او اراضي کې بلد او د جنګي نوښت او متحرکي ستراتیجی څښتنان وه.

کمونستانو چې په ولس کې محبوبیت نه درلود، د حکومت په نیولو سره د شوروي انقلاب په اقتباس د داسې فرمانونو په جاري کولو او عملي کولو پیل وکړ، چې د ټولنې بنیادونه یې لرزول. تر ډېره یې د ټولنې محرکه قوه ووژل یا فرار کړل؛ مثلاً، خان او سرمایه

دار چې د ټولنې اقتصادي محرکه قوه وه؛ قومي مشران چې د ولس عنعنوي ټولنيز چوکاټ يې ساتلی و او ملا او د عصري علومو هغه تعليميافته چې خلقي نه و؛ خو د هېواد فکري او علمي سرمايه وه، ټول دوی خپل دښمنان ګڼل او وژل يې. له خان او سرمايه داره يې مځکه او سرمايه واخيسته، قومي مشران، ملا او تعليميافته يې مړه يا فرار کړل او په دې ډول يې کوښښ کاوه له ټولنې روح، اقتصادي توان او ټولنيز تحرک وباسي څو ټوله لکه په شوروي کې د دوی په اختيار او واک کې بلاتنازع پراته وي. دا کار په لږ وخت کې هيڅ عملي نه و. دوی خپله ناکامي چې ددوی د نالايقي زيږنده وه، په زور په کاميابی بدلول او شوروي اتحاد يې هم د همدغه هدف لپاره پر افغانستان تجاوز ته وهڅاوه؛ خو کار يې ورنکړ.

مجاهدينو د شوروي د غولپيکره نظامي قوت په مقابل کې په کوچنيو ډلو ګوريلائي د ترپ وخرپ جنګ کاوه، چې د جنګ په ميدان کې يې د چټک تحرک او ابتکار قوه د شوروي لوی فوځ تر تقليدي(دوديز) تاکتيک ډېره وه. د مجاهدينو يوې کوچنۍ ډلې به د شوروي لويه قوه په يوه پراخه سيمه کې ساعتونه سراسيمه او سرګردانه کړه. مجبوره به سوه نيولې ساحه خوشې کړي. د بيا نيولو لپاره به په لويه قوه بيا سيمې ته راغله، بيا به د مجاهدينو ورو ډلو لوی سرخوړی ورته جوړ کړ، او شوروي سور فوځ به ناکامه ولاړ. ددغه حالت تکرار شوروي باالآخر وتلو ته مجبور کړ او خپل داخلي ملګري يې سراسيمه پريښوول.

افغان مجاهدين د خپل وطن په اراضي او آب و هوا نسبت شوريانو ته ډېر بلد وه. په لوړو غرونو کې يې سنګرونه ځانته جوړول او په کوچنيو ډلو به يې پر شوروي قواؤ حملې کولې. شورويان مجبور وه د مجاهدينو د سنګر د ړنګولو لپاره يوه لويه قوه په دغو غرونو کې تيته کړي چې ډېر تلفات او مصرف يې درلود. مجاهدين به له هغه ځايه ولاړل بل ځای ته او بيا به يې پر شورويانو حمله وکړه. شوروي فوځ به د مجاهدينو په نسبت د ډېرو تلفاتو او مصارفو د تحمل سره بيرته خپلې قرارګاه ته مات و ګوډ ورروګرځېد.

مجاهدينو د ولس بې دريغه ملاتړ درلود. علماؤ، پوهانو او ولسي مشرانو، ولس د خلقيانو خلاف د مقدس جهاد په روحيه راوپاراوه. هر ځای د کمونست حکومت خلاف بغاوت وسو. پر افغانستان د شوروي بربنډ تجاوز، په افغان ولس کې د اسلام او وطن دفاع حس او جذبه نوره هم تقويه کړه او د حاکم کمونستو خلقيانو خلاف د ولس تنفر نور هم ډېر سو. د شوروي تجاوز خلاف په هم هغه اول سر کې زموږ مؤمن ولس د شپې پر بامونو د اعتراض په عنوان د الله اکبر ناري وهلې. حکومت ددغه سوله‌ايز اعتراض سره سخته بې رحمه چلند وکړ؛ په لسهاؤ زره خلک يې بنديان او شهيدان کړل؛ خو شوروي سرهٔ فوځ په جنګ کې نه د دين او نه د وطن د دفاع جذبه درلوده. څه وخت شوروي حاکمانو خپلو عسکرو ته ويل چې افغانستان کې امريکايان دي، زموږ جنوبي سرحد ته راغلي دي؛ که موږ اوس په افغانستان کې جنګ ورسره ونکړو، راځي پر شوروي اتحاد حمله کوي؛ خو کله چې به شوروي عسکر راغله و به يې ليدل چې دلته امريکايان نسته او افغانان د خپل دين او وطن د دفاع لپاره جنګيږي، د افغانانو سره به يې د جنګ روحيه کمزورې سوه. دغه سبب و، چې شوروي حکومت د مرکزي ايشيا عسکر د شرقي يورپ په عسکرو بدل کړل.

پر افغانستان د شوروي بربنډ تجاوز، د مجاهدينو استدلال او جهاد نور هم د کمونستانو خلاف تقويه کړ او عام ولس په هغه څه نور هم قانع سو چې مجاهدينو به ورته ويل چې خلقيان کمونستان، له خدايه منکر او تر شا يې ملحد روسان ولاړ دي. مجاهدينو به ولس ته د مرکزي ايشيا د مسلمانانو سره د روسانو ظلمونه يادول د کومو ياد چې زموږ د خلکو په ذهن کې لا تازه و. د ظالمو کمونستو خلقيانو په ملاتړ د شوروي بربنډ تجاوز په افغان عام ولس کې د کفر او اشغال په مقابل کې د جهاد روحيه ډېره تقويه کړه.

مجاهدينو د کلاسيک جنګ او د يو قوي عسکري نظام خلاف د غير تقليدي(دوديزو) او نامنظمو تاليتيکونو څخه کار اخيست. مثلاً، د بخار له ديګونو، د کوکاکولا له بوتلونو او د کيمياوي سرې څخه د بمانو او ماينونو په جوړولو کې کار اخيست. يا مثلاً د مجاهدينو يوې کوچنۍ ډلې به د روسانو پر لويې قويې غافلګيره حمله وکړه، چې روسانو به يې هيڅ پيشبيني نه وه کړې.

**د ولس پراخ ملاتړ:** خلکو مجاهدينو ته خپل ځوان بچيان د جنګ لپاره ورکول، استخباراتي معلومات او پخپلو کورونو کې يې پټنځای، ډوډی، لوجيستک او نور ضروريات مفت ورکول چې د جهاد په کاميابی کې ډېر مؤثر وه. مجاهدينو ته ولسي ملاتړ په دومره پراخه پيمانه حاصل و، چې ښځو به مجاهدين په کورونو کې پخپلو بسترو کې له روسانو پټول. پر خدای بخښلی ملام محمد عمر مجاهد ۱۲ کاله ښځو پيره وکړه. ياد مې دي چې مجاهدو تعليميافته نجونو به د حکومت ضد شبنامې تر برقعو لاندې په ښارونو کې د حکومت په حساسو ځايونو کې تيتولې چې د هغه ځای ټوله امنيتي دستګاه به يې يوه هفته(اونۍ) سراسيمه مصروفه کړې وه؛ حکومت به يې پر خپلو خلکو شکمن کړ؛ تغييرات به يې په دندو کې راوستل چې دغه کار به ددوی په منځ کې بې اعتمادي نوره هم ډېره کړه. د مجاهدينو

سره د ولس روحي ملاتړ هم ډېر د توجه وړ و. خلکو د حکومت د مامور او عسکر جنازه نه کوله او مړی يې کلي کې نه پرېښود؛ خو د مجاهدينو شهيد به په ډېره درناوي خښېده.

**د مجاهدينو قوی مورال:**

حکومتي او شوروي عسکر به په موټر، ټانک او الوتکه کې د جنګ ميدان ته ورټل کېدل او هلته به ښه غذا او کافي جنګي مهمات وررسېدل، په پخو سنګرونو کې به ناست وه او پر سر به يې الوتکو پيره کول؛ خو مجاهدين به په وږي نس، په لږو نظامي وسائلو او حادو سختو شرائطو مګر د ايمان په جذبه د دښمن پر مستحکمو سنګرونو ورختل. دغسې يو حالت د شوروي فوځ رزمي روحيه د مجاهدينو مقابل کې کمزورې کړې وه.

اسلام، د افغانانو مختلف قومونه، نژادونه، ژبې، سمتونه او سياسي تجاهات د خارجي تجاوز په مقابل کې متحد کړي وه. روسانو کوښښ وکړ، چې اقليتونه د پښتون اکثريت په مقابل کې وهخوي؛ خو ناکام سول او هيڅ يو قوم نه يوازې د پښتون په مقابل کې پورته نه سو، بلکې د جهاد خلاف ونه دريد. د افغانستان ټول شريف قومونه، په استثناء د څو سياسي قومي تجارانو، د کمونست حکومت او شوروي تجاوز خلاف ودرېدل يا حداقل د جهاد مخ يې ونه نيو.

مجاهدين د يو عالی هدف لپاره جنګېدل – د خپلې مقدسې عقيدې، اسلام او خپلې پاکې خاورې افغانستان دفاع د افغان مجاهدينو دغه سرشاري اسلامي جذبې، د اسلامي نړۍ خواخوږي زمونږ د جهاد سره وهخول. جنګ روحيات دي او د مجاهدينو روحيات ډېر قوي وه. مجاهدينو ته خپل ژوند د يو مجاهد فی سبيل الله په صفت او مرګ يې د پاک شهيد په حيث ارزښ درلود؛ نو ځکه مجاهدين په دواړو حالاتو خوښ وه او له مرګه نه وېرېدل؛ خو روسانو او د هغو افغان کمونسټ ملګرو مرګ نه خوښاوه. دغه ټينګ باور مجاهدين دومره دلاور کړي وو، چې د روسانو پر غولپيکره ټانکونو به يې ورزغستل او د شوروي لويه قوه به يو څو تنو مجاهدينو رااېساره کړې وه.

**مجاهدين د خپل بشري قوې په تجديد کې کوم مشکل نه درلود:**

ځوانان به په خوښه د جهاد صف کې شاملېدل او کم هم نه وه؛ خو روسانو او افغان کمونست حکومت ته د جنګ لپاره د تازه دم عسکرو تهيه کول اسانه کار نه و. ځوانان د کمونست حکومت له عسکري خدمته تښتېدل. هغه وخت عسکري خدمت مکلفيت و. حکومت ځوانان په بازارونو کې په زور عسکرۍ ته نيول او حتی د ټول انساني ارزښتونو خلاف يې کمسنه هلکان او سياسي بنديان د مجاهدينو په مقابل کې د جنګ تاوده ميدان ته بيول. دغه کار حکومت نور هم منفور، د ځوانانو مهاجرت يې ډېر او د جهاد صفوف يې تقويه کړل. خلقيانو، د خلکو په وژلو او فرارولو د هېواد ديوالونه او دروازې ماتي کړې او د خپل ولس لويه برخه يې غيرحق د حريصو ګانډيانو غيږ ته واچول چې نتيجه يې خپله وليدله.

**صبر و ثبات:**

مجاهدينو د ثواب او اخرت کې د پاداش په منظور د جنګ هره ناخواله په ورين تندي قبلول چې دا پر دښمن د مجاهدينو د بري يو بل مهم عنصر و. نا مساعدې هوا، کمزورې لباس و خوراک، په کمه او پيکه وسله د يو ډېر قوي دښمن سره مقابله او د جنګ مسلسل قوي فشار د مجاهدينو حوصله نه اوبه کول. خو روسانو او د هغو افغان کمونسټ ملګري داسې نه وه. هغوی ثواب او اخرت کې د پاداش اميد نه درلود؛ نو ځکه په جنګ کې په هره ماته ډېر نااميده او سراسيمه کېدل. قوی اسلامي روحيې افغان مجاهدين په سنګر کې متحد او په قوي روحياتو وساتل. دوی خپله لار حق بلل او پر بري يې باور و. برخلاف پر حکومت او شورويانو، فشار او ناکامي ډېر بد اثر کاوه او ددوی جنګي روحيه يې ورکمزورې کوله. په اوږده جنګ کې دغه د صبر او ثبات عنصر مجاهدينو ته د يو ډېر قوي دښمن خلاف کاميابي نصيب کړه.

دوستانو! افغان مجاهد ولس په بې‌ساري قربانيو د زماني د فرعون د غرور ښکر ورمات او نړۍ يې د شوروي د شريري امپراتورۍ له شره بې‌غمه کړه. په بل پيغام کې به پر دې خبرې وکړو، چې مجاهدينو ولې خپل دغه عظيم بری چې په ډېرو قربانيو يې لاسته راوړی و سمباله نکړای سو؟ ولې ونه توانېدل چې تر جنګ وروسته فکر وکړي، چې پر موږ دا ناورين ولې راغی او څه بايد وسي چې بيا دغسې يو حالت راباندې رانه سي. تر بل پيغامه د خدای په امان

السلام عليکم ورحمة الله و برکاته

# د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د ظرفیت تحلیل

انجنیر عزیزالرحمن "عزیز"

**پیژندنه:**

د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د ظرفیت تحلیل څو اړخیزه پروسه ده چې جیولوجیکي، هایدرولوژیکي او چاپیریالي علوم سره یوځای کوي ترڅو د دې حیاتي سرچینو مسئولانه او دوامداره مدیریت ډاډمن کړي.

د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د ظرفیت تر تحلیل وړاندې د ځمکې لاندې اوبو د کچې، کیفیت او د وخت په تیریدو سره د احتمالي بدلونونو د ځارنې اوږد مهاله احصائیو او معلوماتو ته اړتیا ده چې دا چاره د دوامداره ځارنې سیستمونو له پلي کولو پرته ناشونې ده.

د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د ظرفیت په تحلیل کې مختلف عوامل ارزول کیږي چې اړین او لمړني یې د ځمکې اوبه لرونکو پوړونو ځانګړتیاوې، د تغذیې کچه او د اوبو پایداره راایستل دي. پدې لنده لیکنه کې د ځمکې لاندې اوبو سرچینو ظرفیت د تحلیل میتودونو ته اشاره شوې، چې د پمپ کولو آزموینو، هایدروجیولوجیکي ماډل جوړولو او د GIS کارولو پر مټ ترسره کیږي.

د دې تخنیکونو په پوهېدو سره، د اوبو سرچینو مدیران کولای شي د ځمکې لاندې اوبو د دوامداره کارونې، تنظیم او تخصیص په برخه کې اړیني پریکړې وکړي.

## الف: د ارزونې عوامل (Analyzing Factors)

### ۱. د ځمکې اوبه لرونکو پوړونو (Aquifers) ځانګړتیاوې

د ځمکې اوبه لرونکي پوړونه د ځمکې لاندې جیولوجیکي جوړښتونه دي چې اوبه زېرمه او لیږدوي. د دوی په ځانګړتیاوو کې خلاوې یا Porosity (د ډبرو او رسوباتو د ننه تش ځایونه)، نفوذ منل یا Permeability (د اوبو لیږدولو وړتیا)، او د اوبو ورکړې مخصوصه وړتیا یا Specific Yield (هغه اوبه چې د جاذبې قوې لاندې د ځمکې له اوبه لرونکي پوړ څخه بهیږي) راځي. دا ځانګړتیاوې په ځمکه کې د اوبو د زېرمه کېدو او جریان د څرنګوالي په موخه له مختلفو څېړنیزو لارو ترلاسه کیږي.

### ۲. د ځمکې لاندې اوبو د تغذیې کچه

د ځمکې لاندې اوبو د تغذیې کچه د هغه اندازه اوبو اټکل دی چې د ځمکې لاندې اوبه لرونکي پوړ ته د مختلفو پروسو له لارې لکه اورښت، جذب او نفوذ رسیږي.

د ځمکې لاندې اوبه تل د اورښتونو او سطحي جریانونو پر مټ تغذیه کیږي، چې کچه یې په مختلفو سیمو کې د یو شمېر فکتورونو پر بنسټ لکه اورښت، د خاورو نفوذ منل، د ځمکې د کارولو ډول، نباتي پوښښ او نورو سره توپیر لري.

د تغذیې اټکل کولو په میتودونو کې د اوبو د بیلانس مطالعه کول، د خاورو د نم (رطوبت) څارل، او هغه ریاضیکي ماډلونه چې اقلیمي اغېزې او هایدروجیولوجیکي معلومات یوځای سره تحلیل کوي شامل دي. د ځمکې لاندې اوبو د ظرفیت د تحلیل لپاره د تغذیې د کچې ارزونه خورا اړینه موضوع ده.

### ۳. په پایښت لرونکي توګه د اوبو رااېستل (Sustainable Yield)

د هغو اوبو کچه معلومول دي، چې د ځمکې لاندې اوبو له سرچینو څخه د اوږدې مودې لپاره په خوندي ډول رااېستل کیدای شي پرته له دې چې د اوبه لرونکي پوړ د زېرمه کولو وړتیا کمه کړي. پدې توګه د طبیعي تغذیې د کچې او اوبو رااېستلو تر منځ انډول ساتل کیږي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د اوبو رااېستنه یوازې د ځمکې د بېرته تغذیې وړ ظرفیت څخه تر سره کیږي او دا چاره د اوبو سرچینو د پایداره مدیریت له اصولو څخه ده.

## ب: د ځمکې لاندې اوبو سرچینو ظرفیت د تحلیل میتودونه

د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د ظرفیت په تحلیل کې معمولا له لاندې میتودونو ګټه اخیستل کیږي:

### ۱. د جی آی ایس (GIS) پر بنسټ کړنې

جی آی اس (GIS) یا د جغرافیایي معلوماتو سیسټم کولای شي د سیمه ییزو شرایطو له مخې پر هایدروجیولوجیکي پروسو او ځمکې لاندې اوبو سرچینو باندې د احتمالي اغېزو پوهاوی رامنځ ته کړي.

د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د ظرفیت تحلیل په کړنو کې، جی آی ایس (GIS) ددې لپاره کارول کیږي ترڅو سیمه ییز معلومات سره ترکیب، تحلیل، تفسیر او مجسم کړي. پدې پروسه کې د ځمکې اوبه لرونکو پوړونو (Aquifers) ځانګړتیاوو، د تغذیې زونونو او د ځمکې کارولو نقشې چمتو کیږي.

### ۲. ریموټ سنسنګ

د ځمکې لاندې اوبو په اکتشاف او مدیریت کې ریموټ سنسنګ داسې کارول کیږي چې د سپوږمکۍ یا هوایي عکس له مخې د مستقیم فزیکي تماس پرته د ځمکې د سطحې په اړه معلومات راټولیږي.

د ریموټ سنسنګ په مرسته د ځمکې پوښښ د ډول او هایدروجیولوجیکي ځانګړتیاوو، د بوټو تراکم، د ځمکې په پوښښ او ګټه اخیستنه کې تغییراتو، د سطحي تودوخې، د اوبخوړونو سرحدونو، د سطحي اوبو مجراوو او د خاورو لندبل د محتویاتو په اړه معلومات لاس ته راځي. چې د ترلاسه شویو معلوماتو د تحلیل او تفسیر په پایله کې د ځمکې اوبه لرونکو پوړونو د احتمالي موقعیتونو او د ځمکې لاندې اوبو د تغذیې په اړه په غیر مستقیم ډول لمړني معلومات پیدا کیږي.

همدارنګه د ریموټ سنسنګ په مرسته د ځانګړي رادار پر مټ، د ځمکې طبقو کیناستل (Land Subsidence) چې د ډېرو اوبو رااېستلو له امله پېښیږي هم څارل کیږي.

3.جیوفزیکي څېړنې

جیوفزیکي اکتشاف د ځمکې لاندې اوبو سرچینو په موندلو او ارزونه کې خورا مهم رول لوبوي. چې د ځمکې لاندې شرایطو د مطالعې او د اوبو پیژندلو لپاره په مختلفو میتودونو ترې ګټه اخیستل کیږي. او تر ډېره د ځمکې لاندې اوبو پایداره راایستل او د څاه کیندلو لپاره مناسب ځایونو په ګوته کوي .



۴ .څېړنیز څاګان او څارنیزه شبکه

د ځمکې لاندې اوبو د کره څېړنو په موخه تر جیوفزیکي اکتشاف وروسته او د مختلفو ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره د څېړنیزو څاګانو د کیندلو ځایونه ټاکل کیږي. معمولا څېړنې د اړتیا او لړیتوبونو له مخې پلان کیږي او په پای کې نوموړي څاکان د ځمکې لاندې اوبو په څارنیزه شبکه کې شاملیږي چې د اوږدو مودو لپاره د ځمکې لاندې اوبو کمي او کیفي احصائیې ترې راټولیږي.

د ډیزاین سره سم د څاه کیندلو پر مهال په دقیق ډول تخنیکي نظارت ترسره کیږي او یو لړ معلومات لکه د ځمکې د طبقو جوړښت، د اوبه لرونکو پوړونو موقعیت او پندوالی او نور ثبت کیږي، همدارنګه د څاه تر بشپړیدو وروسته د پمپ کولو آزموینې هم د څېړنو یو پړاو دی.





۵ .د پمپ کولو آزموینې

د پمپ کولو په آزموینو کې د ځمکې اوبه لرونکو پوړونو د ځانګړتیاوو ترلاسه کولو په موخه په کنټرول شوې کچه له څاه څخه اوبه رااېستل کېږي. په دې موده کې د اوبو کچې د کښاستلو له تحلیل څخه ارزښتناکه احصائیې لاس ته راځي، چې د اوبه لرونکو پوړونو د ځینو ځانګړتیاوو لکه د اوبو لېږدولو او زېرمه کولو وړتیا او هایدرولیکي هدایت په ارزولو کې مرسته کوي.




٦ .د ځمکې لاندې اوبو ماډل کول

د ماډل کولو له لارې د ځمکې لاندې اوبو ظرفیت د تحلیل لپاره، هغه فکتورونه چې پورته ترې یادونه وشوه لکه د ځمکې اوبه لرونکو پوړونو ځانګړتیاوې، د تغذیې کچه او د پمپ کولو آزموینو پایلې کارول کېږي .

له ځارنیزې شبکې څخه د ترلاسه شویو احصائیو او پورتنیو پایلو په رڼا کې د MODFLOW ، FEFlOW او نورو عددي ماډلونو په کارولو سره د ځمکې لاندې اوبو جریان تشبېه کېږي. سربېره پر دې د ماډل د پایلو له کره والي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د ساحوي معلوماتو په کارولو سره د ماډل عیار کول هم خورا اړین دي.

ج: پایلې او وړاندیزونه

د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د ظرفیت تحلیل سربېره د اوبو د کیفیت څرنګوالی هم حیاتي ارزښت لري، او اړتیا لیدل کېږي تر څو د اوبو کیمیاوي، فزیکي او باکتریالوژیکي غلظت وڅارل او ډاډ ترلاسه شي چې د مختلفو موخو لپاره د کیفیت معیارونه پوره کوي او د ککړتیا او مالګینتوب په څېر اندېښنې یې حل شي .

د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د اغېزمن مدیریت لپاره اړتیا ده چې هر کال د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د ظرفیت او کیفیت ارزونې ترسره شي. او په پایله کې د اوبو مدیرانو او پالیسي جوړوونکو ته دا فرصت ورکوي تر څو د مختلفو سکتورونو د اړتیاوو له مخې او د اوبو سرچینو د ظرفیت په پام کې نیولو سره د اوبو زېرمه کولو، لېږد، تخصیص او تنظیم په برخه کې غوره پلانونه چمتو او پلي کړي.

# د پوله تېرېدونکو اوبو تخصيص(وېش)

لیکوال: استاد برکت الله آریوبي

**سریزه :**

دا پوښتنه چې خوږې پوله تیریدونکې اوبه څه ډول تخصيص او يا ووېشل شي، مخ پر زياتيدونکې توګه ننني ورځ د اوبو مديرانو پورې اړه لري. د اوبو لپاره اړتیا په نړیواله کچه ډېرېدونکې ده او دا اړتیا د ځينو فکتورونو لهٔ کبله لکه د وګړو ودې، اقتصادي پراختیا او نورو عواملو څخه اغيزمنيږي. په ورته وخت کې پاکو او خوږو اوبو ته لاسرسی ورځ په ورځ د اوبو بحران، د اوبو کیفیت خرابوالي، ایکوسیستم ویجاړتیا، اقليمي بدلونونو او داسې نورو فکتورونو له کبله محدوديږي. د چاپيريال لپاره د اوبو جريان،د اصلي اوسېدونکو اړتياوې او د ایکوسیستم لپاره د اوبو جريان اړتيا د دې سبب کيږي چې ورځ په ورځ مخ پر زياتېدونکې توګه خوږو اوبو ته لاس رسی محدود شي.

کله چې د اوبو تخصيص د سیاسي او جغرافيايي پولو د باندې صورت مومي په دې اړه ځانګړی بحث رامنځته کيږي ځکه چې د نړی ۶۰ سلنې ډېرې اوبه د سیاسي پولو څخه اوړي يا پوله تېرېدونکې دي چې په دې کې ۳۱۰ پوله تېرېدونکې سیندیزې حوزې او ۵۹۲ آکويفرونه شامل دي. 1 د پوله تېرېدونکو اوبو ډېری برخه وار له مخه د اقليمي بدلونونو او نورو مخ پرزياتېدونکي فشارونو له کبله زیانمنونکې دي. د اوبو کمښت، په بې رويه توګه د اوبو زېرمناوو پراختیا لکه د برېښنا بندونه او داسې نور، اوبو ته مخ پرزياتېدونکې اړتیا، د اوبو پر سر ناندرۍ او دا ډول نور ټول هغه موارد دي چې له يو بل سره اړيکه لري او په نړیواله کچه د پوله تېرېدونکو اوبو په برخه کې يې ستونزې پراخې کړې دي. دا چې اوسنيو د لاسرسي وړ اوبو مديريت کولو تنظيمات په لويه کې ضعيف دي، دا هره مسأله يا ستونزه راپورته کولای شي او دا چاره به په خپل وار هېوادونه، د اوبو منازعاتو سوله‌ايز حل او فصل په برخه کې هېوادونه له لنډمهال، منځ مهال او حتی اوږدمهال ربړو او کړاو سره مخ کړي. د پوله تېرېدونکو اوبو اوسنی تخصيص په حقيقت کې تر ډېره د تاريخي استفادې په بنه رژيمونه لري چې ځينې يې د نويو سريعو تحولاتو سره همغږي کولو ته جدي اړتیا لري. په ورته مهال کې بايد د اوبو تخصيص نوي تنظيمات په لوړه کچه د پاليسيو په سر کې راشي هغه څه چې پخوا ورته ډېر لومړيتوب نه ورکول کېده. سره له دې چې د اوبو تخصيص په اړه په ملي او بين المللي کچه لارښودونه شتون لري ليکن د پوله تېرېدونکو اوبو په برخه کې د اوبو تخصيص برخه لا ډېرو څېړنو او ارزونو ته اړتیا لري.

**د پوله تېرېدونکو اوبو په کنټکسټ(سیاق) کې د اوبو تخصيص مفهوم او موخې**

په يو ساده تعريف کې د اوبو تخصيص دې ته وايي چې څوک، د کومې موخې لپاره په کوم مقدار او کوم کيفيت، چېرې او په کومه نقطه کې اوبه استعمالوي. همدې ته په کتو د پوله تېرېدونکو اوبو تخصيص په مکرره توګه د دوه يا څو هېوادونو ترمنځ د اوبو کمیت، کیفیت او وخت ته په کتو د اوبو شريکولو پروسه يا پلان دی.

د اوبو مقدار چې په ساده مفهوم په کلنی بنه، مياشتنی بنه او يا بلې دورې له مخې په بيلابيلو ځايونو کې معلوميږي. همداراز د اوبو ورکړې وخت هم په ورځنی، مياشتنی، فصلنی او يا بل ډول حالاتو سره مشخص کيږي.

د اوبو کيفيت څخه مراد د اوبو کيفيت مهمې موخې او اړوند حدود دي چې د ځانګړو پارامترونو په ځانګړې توګه معيارونو او خوند له مخې معلوميږي چې له مخې يې اوبه د استفادې وړ ګرځي.

د تخصيص وړ اوبه هغه مقدار اوبه دي چې په اړوند سيندیزه حوزه کې د بيلابيلو استفادو په موخه شتون لري او البته دا د چاپيريالي خونديتوب او ضرورتونو وروسته په پام کې نيول کيږي.

په لنډه توګه ويلای شو چې د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص په مکرره توګه ګډ پلان، تصميم نيونه او تطبيقي پروسه ده چې د دوه يا څو ګډو سيندیزو هېوادونو ترمنځ رامنځته کيږي. د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص کې لاندې موارد مشخص کيږي: د اوبو مقدار، کيفيت او د اوبو وخت چې له پولې اوړي او يا د يو هېواد تضمين شوې حقابه. په ساده معنی ويلای شو چې د اوبو تخصيص دا مشخصوي چې څوک پوله تيريدونکې اوبه استعمالوي په کوم مقدار او کوم کيفيت؟، چيرې؟، د کومې موخې لپاره؟ او د زمان په کومه نقطه کې؟.

**د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص موخې په لاندې ډول دي:**

په عادلانه او منصفانه توګه د ګډو اوبو څخه ګټه اخيستنه؛

اړوند هېوادونو ته له جدي ضرر رسولو څخه مخنيوی؛

چاپيريالي خونديتوب؛

د اقليمي تغيراتو سره سازګاري؛

د ځينو ځانګړو وضعيتونو مديريت لکه وچکالي، سيلابونه او داسې نور...

د انساني حياتي اړتياوو پوره کول؛

د ګډو ګټو شريکول.

**د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص اړتیا**

په نړيواله کچه له ٦٠ سلنې ډېرې خوږې اوبه د هېوادونو له پولو څخه تيرېږي چې ۳۱۰ څخه ډېر يې پوله تيريدونکې سيندونه او شاه خوا ۵۰۰پوله تيريدونکې آکويفرونه جوړوي. دا په داسې حال کې ده چې د اقليمي تغيراتو او نورو پديدو اغيزو له کبله گډ سيندونه ډير زيانمنيدونکي دي او د خلکو لاسرسی يې و خوږو اوبو ته محدود کړی دی.

په اوسني وخت کې چې په چټکی سره د اوبو خونديتابه شرايط تغير مومي، د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص ډير اهميت لري، دا ځکه چې ورځ په ورځ اوبو سرچينو ته تقاضا ډيريږي، د اوبو فزيکي شتون محدوديري، وچکالي، سيلابونه او اقليمي تغيراتو، دي مهمې سرچينې ته د بشريت لاسرسی محدود کړی. د اوبو موجوده او راتلونکې گټه اخيستنې لپاره اړينه ده چې تلپايه او همغږي تنظيمات رامنځته شي چې وکولای شي د هېوادونو ترمنځ ستونزې راکمې کړي.

**د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص کې اغيزمن فکتورونه:**

**۱. تغيرمننه:** د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص اړوند تنظيمات او معاهدات بايد تغيرمنونکې وي. که چيري د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص نوي تنظيمات او ميکانيزمونه رامنځته کيږي بايد په لنډمهال، منځ مهال او اوږدمهال کې د راتلونکو تغيراتو سره د سازگاری وړتيا ولري او بايد داسي ډيزاين شي چې د هايدرولوژيکي، اقليمي، اقتصادي -اجتماعي، جيوگرافيکي، فرهنگي او ... تغيراتو سره ځان عيار کړي. هېوادونه بايد د تخصيص اړوند تنظيماتو بياکتنې وړاندوينه وکړي. دا چاره دوی بايد د معاهداتو عمومي حقوقي اصولو ته په پام ترسره کړي. هېوادونه بايد دا ظرفيت رامنځته کړي چې د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص اړوند سيستمونه، نهادونه او ميکانيزمونه داسي سمبال کړي چې د راتلونکې وضعيتي تغيراتو ځواب ويونکې اوسي. د مثال په توگه که چيري هېوادونه په دې برخه کې د پوره مقدار پرځای له فيصدی څخه گټه واخلي او يا د اوربښت ټاکلې کچه د تخصيص لپاره اساس وگرځوي نو، د راتلونکو تغييراتو سره به يې ځان عيار کړی وي. له ښه مرغه د افغانستان او ايران ترمنځ د هلمند اوبو پر سر د ۱۳۵۱ کال تړون هم ورته موضوع په نظر کې نيولې. د نوموړي تړون ۱ مادي له مخې که چيري د کجکي پورته سيمې کې د دهراوود استيشن مشخص ارقام وښيي، نو د دوی حقآبه يو ډول وي او کچيري ټيټ او پورته شي، د ايران اسلامي جمهوريت حقابه تغير مومي .[2]

د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص په برخه کې بايد اقليمي تغييراتو ته د يوې مهمې او حساسې مسألې په توگه وکتل شي او دا په حقيقت کې د اړوند تړونونو او نورو تنظيماتو يو اغيزمنونکی فکتور دی. دا معاهدات بايد د اقليمي بدلونونو سره ځان سازگار کړي په ځانگړې توگه د ورښت کچې زياتوالي او کموالي، وچکالی او سيلابونو اړوند ستونزو سره همغږي وي. د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص اړوند تنظيمات بايد د اقليمي بدلونونو سره د سازگاری ترڅنگ د همکاری او همغږي کلک ميکانيزمونه هم ولري چي وکړای شي په بيلابيله کچه دولتي، پاليسی سکتور او د ذيدخله افرادو په کچه دا سازگاري رامنځته شي.[3]

که چيري لازمه وي او د معاهداتو عمومي حقوقي اصولو ته په کتو، دا مسأله گټمنه ده چې د پوله تيريدونکو اوبو تنظيماتو تخصيص شته بنې او اساسات په گډه مطالعه شي تر څو د تکاملي وضعيت او تقاضاوو ځواب ويونکي وي. دا ډول مطالعه او ارزونه بايد منصفانه او په عين وخت کې پايښت لرونکې وي په ځانگړې توگه د بره پروت (upstream)او ښکته پرتو (downstream) سيمو چاپيريالي موضوعات په ځانگړې توگه په پام کې ونيول شي. دا هم اړينه ده چې راتلونکې پلانونه او برنامې چې له مخې يې د راتلونکې استفادې وړاندوينه کيږي، هم د هېوادونو په کچه له يو بل سره شريک شي. د اوبو گټه اخيستنې په اړه راتلونکې پلانونه او برنامې بايد د احتمالي پولې هاخوا ضرر شتون او نشتون پوتنشيل سره د مخکينې خبراوي (prior notification)او مشاورې اصل (consultation)ته په کتو ژر تر ژره چې ممکنه وي، سره شريکې کړي. اوبو ته تقاضا او د اوبو جريان د بيلابيلو فکتورنو له کبله متغير دی او دا فکتورونه پوازي ديموگرافيکي تغيراتو او د ځمکې استفادې ته نه شامليږي بلکې د پوله تيريدونکو اوبو تنظيماتو تخصيص کې بايد اقليمي تغيراتو ته هم توجه وشي هغه چې د وړاندوينې وړ وي.

**۲. د هرې سينديزې حوزې ځانگړنې په پام کې نيول:**

د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص کې مهم ټکی دادی چې د هرې حوزې جلا جلا توپيرونه او ځانگړنې په پام کې ونيول شي. سره له دې چې د اوبو تخصيص په برخه کې مهم محدوديتونه د اوبو کيفيت، کميت او وخت په نظر کې نيول دي، ليکن د پوله تيريدونکو اوبو منصفانه او تلپايه تخصيص مهم فکتور دادی چې د همغې ځانگړې سينديزې حوزې ځانگړتياوې او وضعيت په پام کې ونيول شي. د بيلابيلو سکتورونو لکه اوبو او غذا، ايکوسيستم چلند په پأم کې بايد ونيول شي چې له مخې يې د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص په مسأله کې د دې سکتورونو ونډې او اړتيا ته بايد ډيره پاملرنه وشي تر څو د اوبو تخصيص په داسي ډول وشي چې له يوې خوا يې مؤثريت ډير وي او له بل لوري د همگرايیرامنځته کيدو سبب شي. په دې برخه کې د اوبو سرچينو واحد او يوموټي مديريت په برخه کې همغږي او همکاري کولای شي چې لومړی د اوبو تخصيص تنظيماتو په خپل حالت راوړلو پروسې ته اړتيا کمه کړي دويم دا چې د دې سربيره د پوله تيريدونکو اوبو ايډيال تخصيص ته

زمینه مساعده شي. د اوبو واحد مدیریت پوتنشیل د بیلابیلو اوبو سرچینو او ګټه اخیستنې اړتیاوو ته په کتو تنظیمیږي. سربېره پر دې په دې سیستم کې د عرضې او تقاضا مدیریت هم اړینه موضوع ده که چیرې د سینډیزې حوزې په کچه د اوبو جامع مدیریت لپاره همغږي او همکاري رامنځته کیږي دا چاره به د اوبو تلپاتې تخصیص سره مرسته وکړي او ضمنا د طبیعي زیربناوو او ضروري زیربناوو عملي کول هم آسانولای شي. همداراز د اوبو سرچینو څخه د خالصې ګټې شریکول هم زمینه مساعدوي چې په لویه کچه د منافعو اشتراک ته زمینه سازي وشي او د پوله تیریدونکو اوبو تخصیص اړوند مذاکراتو کې سهولت رامنځته کړي او دا چاره د یو جامع او هراړخیز اختصاص او تنظیماتو رامنځته کولو سبب کیږي .4

3. **دوامداره پروسه:** د پوله تیریدونکو اوبو تخصیص تنظیماتو پراختیا او غزول یوه دوامداره او مشارکتي پروسه ده چې د هېوادونو د دندو پر لایحو (TOR)پیلیږي سربېره پر دې د مشخصو موخو تشخیص صورت نیسي او همداراز اعتمادجوړونه کیږي چې په پراخولو کې یې مرسته کوي. تنظیمات باید له هغو عناصرو سره اړخ ولګوي چې د مشخصو موخو لاسته راوړلو په برخه کې د نهادي ظرفیت لوړولو سبب شي تر څو د هغه تنظیماتو او معاهداتو تطبیق چاره یقیني شي. همداراز دا توصیه کیږي چې یوه ګډه ارزونه ترسره شي تر څو وګوري چې د تنظیماتو او معاهداتو اړوند فکتورونه د اړتیا په وخت کې تصحیح او بیاکتنه پرې وشي. د پوله تیریدونکو اوبو تخصیص پر سر د مذاکراتو شالید څخه دا جوتیږي چې اړخونه باید هڅه وکړي چې د اړتیا پر بنسټ چلند غوره کړي نه دا چې یوازې او یوازې سره په حقوقي حق (Legal rights)او یا د بل کوم حقابې باندې تمرکز وشي. ځکه چې د اړتیا پر بنسټ چلند په حقیقت کې د سینډیزې حوزې ځانګړتیاوو له مخې جوړیږي او دا چاره د دې سبب کیږي چې په آسانه توګه مقدار یې مشخص شي. دا ډول چلند معمولا د غړو هېوادونو لپاره د مذاکراتو د پیل لپاره مشترک ټکی په ګوتو ورکوي چې د پولې هاخوا برخه کې عملي میتود تشخیصوي. سره له دې هم حقوقي حق د پوله تیریدونکو اوبو تخصیص اړوند مذاکراتو لپاره مهم فکتور دی.

مذاکرات باید په داسې بڼه ترسره شي چې په اړونده سینډیزه حوزه کې د موجوده او راتلونکې اوبیزې اړتیاوې په نظر کې ولري او همداراز د پوله تیریدونکو اوبو تخصیص بیلابیلې سناریوګانې هم پکې دخیلې وي. د اوبو تخصیص راتلونکې اړتیاوې باید د اوبو تقاضا مدیریت ممکنه حل لارې ولټوي او په دې برخه کې د بشري حیاتي ضرورتونو، د اوبو استعمال مؤثریت ډیرول په اړوند هېوادونو کې ځانګړی پام ورته وشي .

د پوله تیریدونکو اوبو تخصیص برخه کې هراړخیز مشارکت ډیر اړین دی چې هم د تصمیم نیولو برخه او هم په هغه پروسه کې چې د اوبو تخصیص پایله ده عامه مشارکت یقیني شي. په دې برخه کې هغه وګړي چې په عنعنوي توګه د هغې ټولنې غړي دي او یا په تاریخي لحاظ پوله تیریدونکو اوبو پورې تړاو لري په ځانګړې توګه په پام کې ونیول شي په ځانګړې توګه جنسیتي مساوات او مشارکت. د پوله تیریدونکو اوبو تنظیماتو او معاهداتو تطبیق تر ډیره په ملي کچه د قانون جوړونې پروسې او یا د شتون په صورت کې بیاکتنې ته اړتیا لري. هېوادونه باید په یاد ولري چې که چیرې د نورو هېوادونو سره د فرامرزي اوبو په اړه تنظیمات رامنځته کوي، اړینه ده چې د دې تنظیماتو ښه تطبیق په موخه په دولتي او ملي کچه قوانین رامنځته کړي چې د تنظیماتو تطبیق او اجرا کېدو ته زمینه مساعده کړي او دا چاره باید د امکان ترحده د پلان جوړونې په مرحله کې په پام کې ونیول شي. د ملي کچې هاخوا په فرعي او ایالتي سطحه هم د خلکو ګډون په مذاکراتو او د معاهداتو په تطبیق کې خورا اړین دی. په حقیقت کې اړینه ده چې د پوله تیریدونکو اوبو تنظیماتو ښه تطبیق په برخه کې لازمي برنامې او د عمل پلان رامنځته شي او د دې پلان عملي کیدو په برخه کې د اړوند هېوادونو نهادونو او وګړو ظرفیت لوړول د ښه تطبیق په برخه کې ډیر ضروري ښکاري. همداراز اړینه ده چې د تړون او تنظیماتو تطبیق په برخه کې د ستونزو او شخړو حل و فصل لپاره دواړه ډوله میکانیزمونه(سیاسي روش او حقوقي روش) په ګډه توګه توضیح شي چې دا چاره به د پوله تیریدونکو اوبو تنظیماتو تطبیق سره مرسته کوي.

**4. د پوله تیریدونکو اوبو تخصیص میکانیزمونه:**

په مجموع کې په بیلابیلو برخو وېشلی شو لکه مستقیم میکانیزمونه، غیرمستقیم او هغه میکانیزمونه چې پر اصولو ولاړ دي. دا میکانیزمونه په حقیقت کې انحصاري نه دي بلکې کیدای شي د وخت په تیریدو سره مختلط شي. د مثال په توګه د ځمکې لاندې اوبو سرچینې د سطحې اوبو په پرتله سره بیلې دي او دا په هېوادونو پورې اړه لري چې خپل وضعیت ته په کتو څه ډول له میکانیزمونو کار اخلي او کوم یو ته یې لومړیتوب ورکوي.

مستقیم میکانیزمونه په حقیقت کې هغه دي چې معمولا د ټولو یا ځینو هېوادونو لپاره د اوبو مشخص مقدار په فیصدی، جریان، مساویانه ویش، د اوبو لاسرسي پورې تړاو لرونکي تغیر کوي، وخت پر اساس توپیر په پام کې نیسي. غیرمستقیم میکانیزمونه د مستقیم هغه برعکس هغه دي چې استفادې لومړیتوب،مشاورې، پخوانې تصدیق پر اساس ترسره کیږي. دا ډول میکانیزم د سینډیزې حوزې کمیسون، نهاد او یا کمیټې له لوري اوبه تخصیصوي .5

ځینې وخت د اوبو تخصیص میکانیزم پر ځینو مشخصو اصولو ولاړ وي د مثال په توګه د ګټو

شریکول، د تاریخي او موجوده استفادې، منصفانه استفادې او یا تلپایه گټې اخیستنې له مخې ترسره کیږي دا په حقیقت کې هغه میکانیزم دی چې د مارکیټ ابزارو څخه پکې کار اخیستل کیږي.

**5. د لومړیتوبونو تشخیص:**

مخ پر زیاتېدونکې توگه په ځینو سیندیزو حوزو کې دا رویه په ډېربدو ده چې مخکې له دې چې د هېوادونو ترمنځ اوبهٔ تخصیص کړي لومړی د بشري حیاتي اړتیاوو او ایکولوژیکي اړتیاوو ته پام کوي او وروسته بیا نورو اړتیاوو ته رسیده‌گي کوي. نن ورځ د پوله تېربدونکو اوبو په تخصیص کې د بشري استفادې لپاره د اوبو کیفیت مسأله ورځ په ورځ مهمه کیږي او په دې برخه کې د اوبو ککړتیا مخنیوی، په یو مهم عنصر بدلیږي او په مجموع کې په وروستیو اوبو تخصیص فارمتونو کې د ایکوسیستم ویجاړتیا مخنیوي موضوع، یو مهم فکتور په توگه په نظر کې نیول کیږي. بشري اړتیاوې لکه د څښاک اوبو، تغذیې او روغتیا برخو ته ډېره پاملرنه کیږي په ځانگړې توگه په هغو سیمو کې چې د وچکالی، سیلابونو او یا اوبو شدید کمښت سره مخ وي. د اوبو کمښت د اوبو عرضې او تغذیې په برخه کې اوبو ته اړتیا خدمات د بشري روغتیا باندې څرگنده اغېزه لري څکه چې د اوبو کیفیت خرابوالی خوړو او صحې اوبو ته لاسرسی محدودوي او له بل اړخه د دې اوبو تصفیه او څښاک ته آماده کول هم وخت او لگښت غواړي. د خوړو اوبو ایکوسیستم وضعیت، د اوبو مقدار، کیفیت او نوسان هم اغیزمنوي. د همدې لپاره اړینه ده چې د پوله تېربدونکو اوبو تخصیص برخه کې د ایکوسیستم مهمو اړخونو لکه ښکتنی برخو کې اوبو ته تقاضا، جزایر او ډنډونو ته پام، کب نیونې او داسې نورو اړخونو ته جدي پاملرنه اړینه چاره ده. په حقیقت کې د چاپیریالي او ایکوسیستم جریان ارزونې ابزار او چلندونه که له یوې خوا دا مشخصوي چې د اوبو گټه اخیستونکې ابزار دي خو له بلې خوا دا مسأله په لویه پیمانه اجتماعي، کلتوري، اقتصادي گټې لري چې کیدای شي مستقیمې وي او یا هم غیرمستقیمې.

**6. حقوقي چوکاټ:**

د ملگرو ملتونو له لوري د پوله تېربدونکو آکویفرونو او سیمه‌ایزو معاهداتو لکه (SADC)د پوله تېربدونکو اوبو تخصیص په اړه حقوقي چوکاټ وړاندې کوي. دا حقوقي چوکاټ په حقیقت کې کلي حقوقي اصول په ځان کې رانغاړي لکه د عادلانه او معقولانه گټې اخیستنې اصل، د جدي ضرر نه رسولو اصل، ښه گاونډیتوب او همکاري اصل، د ایکوسیستم حفاظت اصل، د ککړیدو جبران اصل، د شخړو سوله‌ایز حل او فصل او داسې نور. د دې سربېره د حکومتولی ځینې ابزار لکه معاهدات، مشترک نهادونه چې د هېوادونو سره مرسته وکړي تر څو د اړتیا په صورت کې د پوله تېربدونکو اوبو تخصیص تنظیمات او معاهدات د اوضاع او احوال او شرایطو سره همغږي کړي همداراز په دې برخه کې باید د نړیوالو حقوقو پلي کېدو وړ اصول او د گډو سیندیزو هېوادونو تړونونو له مخې تعهدات هم په پام کې ونیول شي.

که چیرې د پوله تیریدونکو اوبو تخصیص تنظیماتو کې گڼ اړخیزه چاپیریالي معاهدات په نظر کې نیول کیږي ښه چاره ده. دا موارد لاندې موضوعاتو ته شاملیږي لیکن یوازې همدې پورې نه منحصریږي لکه د (آراس کنوانسیون) اطلاعاتو ته د لاسرسي په اړه، عامه مشارکت او عدالت ته لاسرسی او د (ایسپو کنوانسیون) چې د چاپیریالي اغیزو ارزونې په اړه دي د نړیوالو ډنډونو په اړه د رامسر کنوانسیون، د بیولوژیکي تنوع کنوانسیون (اړینه ده [6]) UNFCCC او د ملگرو ملتونو له لوري د اقلیمي بدلونونو په اړه چوکاټي کنوانسیون (UNFCCC).اړینه ده چې شرایطو ته په کتو د پوله تېربدونکو اوبو تخصیص برخه کې ځینو ځانگړو نړیوالو نورمونو او اصولو ته پاملرنه وشي چې په لاندې توگه دي، البته دا اصول یوازې په همدې پورې نه منحصریږي لکه: د بومي وگړو لپاره د اوبو تخصیص د ملگرو ملتونو له لوري د بومي وگړو حقونو اعلامیې مطابق UN (UNDRIP) declaration on the rights of indigenous peoples او کلتوري جریان؛ اوبو ته د لاسرسي بشري حق، د گډو منافعو چلند، د سیند او ایکوسیستم حق، هغه چلندونه چې په مخې یې اوبه د ارزښت لرونکي توکي په توگه گڼل کیږي او دا چې د ایکوسیستم حفاظتي خدمات لکه: د اوبو قېمت، د چاپیریالي چوپړونو لگښت ورکول هم په نړیواله کچه د پام وړ رول لري.

7. **گډ تنظیمات:**گډ تنظیمات، معاهدات او گډ نهادونو رامنځته کول د دې سبب کیږي چې د پوله تېربدونکو اوبو تخصیص دوامداره، تلپایه، د ډاډ وړ او د اوړدمهال غوښتنو ځواب ویونکی وي. سره له دې هم ځینې وخت تخنیکي حل لارې، غیر رسمي او یا موقتي تنظیمات د یوه لنډمهال مذاکرې وړ او د قبول وړ حل لارې ته د رسېدو ښه ابزار دی چې د پوله باندې شرایطو کې ترسره کیږي. ډېری دا ډول گډ نهادونه صلاحیت لري چې د خپلو واکونو په حدودو او موضوعاتو کې د اوبو مقدار تشخیص کړي او دا چاره په بیلابیلو سیندیزو حوزو کې توپیر کوي د مثال په توگه ځینې سیندیزې حوزې په ښکاره توگه د اوبو تخصیص واک او صلاحیت لري او ځینې یې په ضمني توگه. دا ټول موارد د هېوادونو په توافق او د سیندیزو حوزو په جغرافیایي ځانگړنو پورې اړه لري. که چیرې گډ نهادونه عملیاتي وي په ځینو وختونو کې د دوی کاري حدود دې چې اړخونو ته د اوبو تخصیص په برخه کې تخنیکي مشورې ورکړي، همداراز د غړو هېوادونو له لوري په موافقه شویو اقداماتو ترسره کولو کې رول ولوبوي. شواهد ښیي چې هغه سیندیزې حوزې چې گډ نهادونه لري د هغوی پرتله چې دا ډول نهادونه نه لري، په ښه توگه کولای شي د اوبو مقدار اړوند ستونزو ته رسیده‌گي وکړي څکه چې دوی د باقاعده تبادلې لپاره وار له مخې تعریف شوی چوکاټ لري. سره له دې هم د بیلابیلو سیندیزو حوزو په مدیریتي برخه کې گډ نهادونه شتون لري لیکن د دې نهادونو د کاري اغیزمنتوب او موفقیت کچه توپیر لري. په دې برخه کې ډیری هغه گډ نهادونه چې د اوبو

تخصيص وظيفه ور ترغاړې ده، له جدي ننګونو سره مخ دي.

**8. د اعتماد وړ آمارو تبادله:**

د تخنيکي آمارو او ارقامو جمع کول او له يو بل سره يې شريکول د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص په برخه کې مهمه ونډه لري. تخنيکي آمار او ارقام دواړو برخو هم بيو فزيکل او هم اقتصادي-اجتماعي برخو ته شامليږي او دا چاره په حقيقت کې مرسته کوي چې د اوبو استفادې بيلابيلو برخو او سکتورونو ترمنځ سم پوهاوي رامنځته او ترمنځ يې توازن برابر شي چې په خپل وار سره دا کار د اوبو لاسرسي وضعيت ښه‌والي او تلپايه پراختيا سره مرسته کوي. همداراز په دې برخه کې لاندې موارد که چيرې په نظر کې ونيول شي د اوبو تخصيص له پوهې او ښستې سره مرسته کوي.

ګډ او يا همغږی د ارزونې او نظارت ميکانيزم رامنځته کول چې له مخې يې په مالي لحاظ تلپايه تکنالوژۍ پرمټ د پوله تيريدونکو تنظيماتو په تطبيق او اجرايي کولو کې اغيزمن رول ولري. په دې برخه کې همغږي شوي ميتودونه او پارامترونه چې په نړېواله کچه يې کارنده توب اغيزمن ثابت شوی د آمارو او ارقامو دقت کې ښه ونډه لري. دا ډول سيستمونه د تخصيص تطبيق او اجرايي کولو په برخه کې موثر دي او د لازم شفافيت په رامنځته کولو سره په دې قادر دي چې د لازمو اصلاحاتو او خلاوو رفع کولو برخه کې انعطاف ونښيي. همداراز اړينه ده چې د پوله تيريدونکو اوبو په تخصيص کې دا مسأله په پام کې ونيول شي چې د اقليمي تغيراتو څخه د اوبو سرچينو اغيزمنوالی په کومه کچه دی او يا هم څنګه دا مسأله د راتلونکې غوښتنو جوتولو برخه کې موثره تماميدای شي؟. دا کار به له شريکو هېوادونو سره مرسته وکړي چې د اوبو راتلونکې په اړه واضح او څرګند ګډ دريځ ولري چې وکړای شي له مخې يې د نظارت او ارزونې سيستم ته پراختيا ورکړي همداراز د تخصيص مفهوم نوبتي بياکتنې کاري حدودو تشخيص ته زمينه سازي وکړي چې د تطبيق لپاره به يې بيلابيلو موډلونو رامنځته کولو کې مهمه ونډه ولري.

اړينه ده چې د آمارو او ارقامو تبادله په شفافه، خلاصه او باقاعده توګه وي او وروستني(اپډيټ) موارد تبادله شي ليکن په دې برخه کې ډيری هېوادونه له ستونزو او کړاو سره لاس و ګريوان دي. معلومات بايد په بيلابيله کچه د هېوادونو او اړوند ذيدخلو اشخاصو ترمنځ تبادله شي دا ارقام بايد هر ډول ارقامو د ميټا ډيټا په شمول تر پوښښ لاندې ونيسي، هغه آمار او ارقام چې د پوله تيريدونکو اوبو اوسنی او راتلونکی وضعيت بيانولای شي. همداراز اړينه ده چې په دې برخه کې هغه پلانونه هم شريک شي چې له مخې يې په راتلونکې کې د پوله تېرېدونکو اوبو پر سر تطبيق کيږي، هغه پروژې او نورې چارې چې په راتلونکې کې د وړاندوينې وړ وي. ځينې وخت ټول آمار او ارقام په کار نه وي او يا هم کله کله هر ډول ارقامو ته لاسرسی ستونزمن وي، په هر صورت ټول هغه آمار او ارقام بايد تبادله شي چې تصميم نيونکي وکړای شي د بې اعتمادي او ډاډ نه لرلو په فضا کې تصميم ونه نيسي.

**9. د تنظيماتو عملي کول:**

په هره جلا سينديزه حوزه کې د پوله تېرېدونکو اوبو تخصيص تنظيماتو عملياتي کول د هرې سينديزې حوزې و وضعيت ته په کتو ځانګړې جهتونه(اړخونه) لري. د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص ميکانيزمونه او تنظيمات کيدای شي د تخنيکي، حقوقي او نهادي اړخونو په چوکاټ کې په لاندې دريو ګامونو کې عملي شي:

الف) هغه اقدامات او چلندونه چې احساسي، علي، تحريکي او يا هم د پوهې پربنسټ ولاړ وي؛

ب)مذاکرات، تنظيمات او معاهدات چې له مخې پوله تيريدونکې اوبه تخصيص کيږي، همداراز د تخصيص پراختيا پلانونه او ميکانيزمونه، د نظارت او ارزونې سيستمونه، د شخړو حل او مخنيوي ميکانيزمونه رانغاړل کيږي.

ج)د تخصيص تنظيماتو تطبيق په ځانګړې توګه ملي کچه تطبيق.

په کافي اندازه د ګډې پوهې او په ګډه، ستونزو باندې پوهيدل د پوله تيريدونکو اوبو اړوند تنظيماتو او يا چوکاټونو تطبيق مؤثريت برخه کې لومړی ټکی سنجول کيږي. که چيرې اړتيا وي دا ډول معلومات د هوکړه شوې تخصيص په ډيزاين، پلان او اړوند ميکانيزمونو کې مؤثر تماميدای شي د ګډې پوهې مهم عنصر دادی چې پکې د اوبو لاسرسي ارزونه، د چاپيريالي اړتياوو ارزونه او د پروژو اغيزو ارزونه په دقيقه توګه بيلابيلو سناريوګانو کې ترسره کيږي. دا هم اړينه ده چې د دولتي اړوند نهادونو سربيره بايد د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص کې نور ذينفع خلک (stakeholders)او ډلې هم ګډون ولري دا کيدای شي بين المللي مالي نهادونه، زيربنايي عملياتي نهادونه، سکتوري سازمانونه، د اوبو ګټه اخيستونکې، مدنې ټولنې، بومي يا اصلي اوسيدونکې او هغه خلک چې اغيزمنيږي، بايد د دې پروسې شريکان وي. د دې خلکو شموليت به له يوې خوا مرسته وکړي چې ګډه پوهه پراختيا وموومي او له بل لوري به انصاف او تلپايه ګټه اخيستنه رامنځته شي. د ونډه والو ارزونه ښيي چې څوک بايد دخيل وي او نهادي ارزونه د دې لپاره ده چې د هر ډول تنظيماتو لپاره بنسټونه تعريف کړي. دې ته په کتو چې د اوبو تخصيص ټولې ګټې او يا فکتورونه مقداري او عددي نه دي اړينه ده چې د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص نهايي تصميم څخه مخکې د تخصيص بيلابيلې بڼې او بديلونه په پام کې ونيول شي او دا چاره ډيره ګټوره ده. په دې کې يوه بيلګه د ګڼ اړخيزه تصميم حدود (MCDA)دي چې د مقايسې لپاره واضح او شفاف ميکانيزم رامنځته کوي. په دې برخه کې ډيری ابزار او سافټويرونه شتون لري چې ګڼ اړخيزه تصميم حدودو پروسه حمايتوي. په دې کې ګډ نهادونه تر ټولو ښه ځايګی لري چې دا ډول ميتودونه عملي کوي چې د خپلو واکونو او وظايفو په حدودو کې چې له مخې په پوله تيريدوکو سياق کې آمار او ارقام سره تبادله شي .

د اوبو لاسرسي په برخه کې د ډاډ نشتون دا چاره اړينه کوي چې انعطاف منونکې ميکانيزمونه چې د اړوند ظرفيت سره همغږي وي، ترتيب او تنظيم شي که چيرې په دې برخه کې ښه آمار او ارقام په ښه ښه تبادله شي، بې اطميناني له منځه وړل کيدای شي، ليکن حتی د آمارو په نشتون کې هم دا موکه شتون لري چې د ګډو آمارو او ارقامو په پايله کې د ګډې همکاری محصول پوهه رامنځته شي. دا بايد ونه انګيرل شي چې د پوله تيريدونکو

اوبو تخصيص تنظيمات او معاهدات يو ځلې تمرين او چاره ده، بلکې دا د پوله تيريدونکو اوبيزو همکاريو يوه برخه ده چې په تدريجي توگه قدم په قدم مخکې ځي، پراختيا مومي او کيدای شي د وخت په تيريدو بياځلې کتنه پرې وشي.

همداراز د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص تنظيمات بايد په کافي اندازه واضح او شفاف وي چې د تطبيق په برخه کې آسانتياوې رامنځته کړي چې دا چاره د تخصيص ميکانيزمونو په پراختيا، د نظارت او همغږي په گډو پلانونو، بېلابېل سکتورونو په پام کې نيولو پرمټ تقويه کيږي او د تخصيص په پروسه کې انعطاف زياتوي. ورسره په څنگ کې اړينه ده چې د پوله تيريدونکو اوبو تخصيص اړوند تنظيمات او معاهدات بايد په ملي او محلي کچه هم تطبيق شي دا چاره د بيلابيلو فکتورنو پر اساس چټکتيا موندلی شي لکه: د اوبو تخصيص پلان، د اوبو اړوند قانون گذاري همغږي کول، د اوبو استخراج باندې محلي محدوديتونه، د اوبو اجازه ورکول او يا جواز د گټې اخيستنې وېش، په کلنۍ توگه د اوبو تخصيص پروسه او همداراز د رعايت او اجرا په برخه کې د نظارت اړوند گډ ميکانيزمونه دا چاره لا آسانه کولای شي.

**پايله:**

